د باد په کنډوالو کې

د شعرونو ټولګه

صديق کاوون توفاني

۱۳۸۱ لمريز

کتاب پېژندنه:

نوم	:	د باد په کنډوالو کې
ویناوال	:	کاوون توفاني
مهتمم	:	عبدالهادي هادي
چاپ شمېر	:	۵۰۰ ټوکه
چاپ نېټه	:	۱۳۸۱ لمیز/ ۲۰۰۲ م
کمپوزر	:	ذشفق
د پښتې خطاط	:	استاد د قمرالدین چشتي

چاپ او کمپیوټر ځای

دانش کتابتون، قصه خوانې بازار، پیښور

د انټیر نیټ په مخ ترتیب او ډیزاین کوونکې : سمسور حبیبي

دسریزې په ځای.

دمینی په نامه

دزړه په شاړه کرونده کې مې دهیلو سپرغی وکرلې ،

اودآرمان دښاپیری په څنډو وځنګیدم

بیا مې دتیږو په ساړه ذهن کې ،

دتودې مینې په نوم ،

دزړه په وینو دیوې بلې کړلې.

دشپې په دښته کې مې ،

په سپیرو شګو ، دګلونو دپښو خاپونه ولټول.

اودبادونو په شګلن بهیرکې ،

دسرو غټیو دمزار څیلې ته ودریدم

اودخدای ټول کلی مې ،

چې شپه او ورځ پکې داوښکو بارانونه کیدل

په یوې اوښکې ،

په یوې ورستنۍ اوشکې ،

پسې ولټاوه.

چې دغمونو دخپرکې وروستۍ پانې ته وروستی ټکی شي

خوته به وايې چې وروستۍ اوښکه ،

مرغۍ شوه ،

او هوا ته ،

لاړه.

* * *

کله چې باغ کې ، تبر شين شو دنارنجو په خای ،

ماته دشنو ونو دمړينې افسانه يا ده شوه ،

او زړه مې وټوکيده ،

لوی شو ،

بيرته ورژيده.

ټوټې ، ټوټوې شو ،

پانې پانې شو ،

دباغ په ونو وغوړيده.

دکوم بې نومه ، نا څرګنده «چا» خبرومې په غوږ کې انګا زې کولې

کله چې ونې مري ، شمال لګيږي ،

کله چې ونې مري ، نری نری باران وريږي ،

کله چې ونې مري ،آسمان په چيغو چيغو ژاړی،

سيندونه ساه ورکوی،

او چپه کېږي غرونه،

او بيا له کومهنا څرګنده ځايه،

يو لاس راوزي، چې رڼا حپروي،

يو لاس راوزي، چې بادونه تړي،

يو لاس راوزي، چې له ډاره يې، د تبر خوله کي ژبه سوزي "

خو ما کتل چې ونې مړې شوې،

ګلان ورژېدل

په شنو باغونو کې د تبر ترانه جاري شوه،

په وچو څانګو د مرغيو ځالې ونړيدې،

او خو نړۍ سيلۍ په ټولو کلی کې وچلېده.

شمال ونه لګېده،

نری نری باران ونه وريده،

غرونه ونه نړېدل،

سيندونه ساه ورنه کړه،

او د اسمان له تکو شنو سترګو نه، يو څاڅکی ونه څڅېده

له ناڅرګنده ځايه،

د باغ په لوري لاس ونه غزيده،

د خدای په ټول کلي کې،

چا د زخمي ننښترو سوې ساندې وانه وريدې،

چا د سپلیو وزر ونه تاړه،

چا د تبر ژبه غوڅه نه کړه.

خو د بې نومه نا څرګنده "چا" خبرې مې تر اوسه لا په ذهن کې دي.

* * *

اوس لکه ستړي سرګردانه مرغه،

د باد په وړانو کنډوالو الوزم،

د باد په وړانو کنډوالو کې، مې د هیلو،

سره ګلان،

لټوم

آلمان / اپریل ۲۰۰۰

دميني شرط

ماته يادشي چې ته پيغله، زه زلمی وم

په رګوکې مو سکروټې ګرځيدلې

ټول وجود مو اور دميني و، نيولی

له ليمو نه مو سپرغی پورته کيدلې

پسرلی و ،

دنيا ټوله ښايسته وه ،

دوړمې کاروان ،

شيندلي وو ،

عطرونه.

دځوانۍ په ميو مست وو موږه دواړه

له غمونو موخالي وو ، زلمي زړونه.

زه په مينه درنژدې شوم چې دې ښکل کړم،

دهوس په دنيا سم کړم قيا متونه.

تا مې لاس په شونډو کيښود ،

بيا دې وويل :

چې اول مې تور پيکي ته ،

سورګل ،

راوړه،

بيامې ښکل کړه د سورکو شونډو سرونه .

او سورګل ،

زمونږ د ځوانې مينې ، شرط شو .

زه له هغې ورځې وروسته بيا تر اوسه ،

سرګردانه په سروګلو پسې ګرځم.

کله سمې لټومه ،

کله ،

غرونه ،

کله د ښتې اومیرې،

کله،

باغونه.

له هر چا نه د سرو ګلو پته غواړم ،

په سرو ګلو پسې لويې لارې نغاړم.

نه مې ستا د پيکې ګل ،

چيرې ،

پيدا کړه ،

نه پوره مو د نيمګړې مينې ،

شرط ،

شو

نه مې ښکل کړل ،

ستا د سرو شونډو ،

سرونه

نه سمسور شول ،

نښتيځلي ،

ارمانونه .

آلمان /۱۹/۸/۱۳

د باد په کنډوالو کې

کاوون توفاني

د کوترې خوب

کوترې خوب لیدلی

چې اور نفسه سارایي بادونه ،

بیرته ستنیږي د سارا غیږې ته.

کوترې خوب لیدلی

چې دلیندیو فصل ،

پرون ږلی ووا هه

او نن ، دکلي بزګر

خپلو پټیو کې ، غنم و

* * *

کوترې خوب لیدلی

چې د چنار لوڅه ، لغړه ونه ،

بیل په تنکیو پانو پټه ښکاري.

* * *

کوتره ناسته ده دکلي دویالې له پاسه

د توت دونې په بر بنډه څانګه ،

او په اوبو کې دلیدلي خوب تعبیر لټوي.

کابل ۱۳۶۶/۱۲/۲۵

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

درېلۍ هينداره

ميـــــکدي تـــه يې مخشر په اوږو راووړ

چې زاهــد د تـــــوبـــو غر په اوږو راووړ

څه تـــا ثـــيـــر دی د ډبوې په سره لمبه کې

چـــې پتنګ ورته خپل سر په اوږو راووړ

داشنـــا په غم مې کسي دواړه سپين شول

سيـــل د اوښکـــو مي نظر په اوږو راووړ

دزړه شمـه بـــه يـــې بـــله کړمه لار کې

کـــه د شپـــي مـــړی سحر په اوږو راووړ

يـــوه ځـاځـکي سـمنـدر په اوږو راووړ

دا فق لمنه ســره پـــه وينـــو ښـــکاري

تـــورو وريځو زخمي لمر په اوږو راووړ

د لته جوړه قـــتـلګا ه ده د غـو تـــيـــو

سره غاټو ل ورته خپل سر په اوږو راووړ

۱۳۷۱ /غبر ګولی کابل

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

توره سیلی

بادو نه دي، غوغـــا کوي بـــاغـــونه، رژوي

شنې ونې لو ټوي، رنګيـــن ګلـــونـــه،رژوي

وږمـــې پـــرون راوړی و پـــيـغام د غـــوړيدو

نن تـــوره سېلی راغله، بـــهـــارونـــه رژوي

يو بـــاددی را الوتی لـــه ســـرا بـــه دوعـــدو

په شـونډو د جانان مې ځـــوابـــونـــه، رژوي

د حسن له جلوي نـــه يـــې زاهـــد نـــه دی خبر

ســـجـــدې پـــيـــکه کوي او ايمانونـــه رژوي

راوو ت لـــه مـــســـجـــده، شو دېره په خرابات

دخـــم پـــه پښـــو کي غـــړي،ثوابو نه رژوي

نـــه ويـــره لـــه سکـــروټو او نـــه تنده د کو ثر

ملا دتـخت له پـــاســـــه خمـــارونـــه رژوي

ښکر يږي چې تش ياد يې هم،په ما نه دی پېرزو

رقيب مې دجانان کو څه کـــې پـــلـــو نه رژوي

دستر ګو په أسمان کي يې بيا ستوري شول رابر

شوګير يې را ته ښکا ري چـــې خـــوبونه رژوي

کابل ۲۰/۲/۱۳۷۱

خدای پامان

درنه لاړم خدای پامان ،زخمي کابله

زما روحـــه، زما ځان، زخمي کابله

درنه لاړم خــو له زړه مې وینی څاڅي

تانه جار، تانـــه قربان، زخمي کابله

د کابل هوا یې ډګر

د غبر ګولې ۱۳۷۱

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

درنه ځمه

درنــه ځــمه، مـجبوري ده، درنه ځمه

په قسمت کې مې خواري ده درنه ځمه

ګوره مــاتــه پــه غــصه نه شي وطنه

راتــه پــيــښــه نــاچــاري ده درنه ځمه

هوايي ډګر کابل

د غبر ګولې ۱۳۷۱

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

غلي نغمې

پـــه بـنو ستوري زنګـــوم داشنا کلي ته ځم

سترګې په لاره غـوړم ، دآشـنـــا کلي تـــه ځم

کلی خاموشه ، ګودر شړ ، کوڅې له دوده ډکې

رقيـبـه ، کډې بـــاروم ، دآشـنـــا کلي ته ځم

پـــــه شـــپو لـړلي سرګردانه مسافر وختونه

ورو ، ورو له سره تيروم ، دآشـــنـــا کلي ته ځم

ريښې ريښې ګريوان مې لاړو درقيـب ګوتو کې

دننګ ځولۍ پيوندوم ، دآشنا کلـــي تـــه ځم

بلبل له غـــړه بيګانه ، ګل لـــه بلـبـلـــه پردی

غـــلـي نـغمـي مـــې ژړوم دآشنا کلي ته ځم.

فبروري/۱۹۹۴ آلمان

دبادونو شپه

دباران شپه ده ، دبادونو شپـــه ده

دزړه په کور مې دغمونو شپـــه ده

شماله ورو ، ورو يې په ناز خوځوه

دیار په زلفو دګلـــونو شـپـه ده

دايې خندا په اننګـــو کـې ویـده

که په ککو يې دنـا زونـو شپـــه ده

وچ او لا نده پکې په ګړه سوځـــي

زمونږ په کلي داورونـو شپـــه ده

دلمر پـــه څنګو کې خځلې زانـــګي

پـه شنه جـنت د دوزخونو شپه ده

نـه شنه خنـدا نه تبســم دګلـــو

په باغ پـريوتې دخوبـونو شپه ده

ونـــې له ويـــــرې تنفس نه کوي

شپـــه ده ، دتورو توفانونو شپه ده

ټوله دنـــيا درڼا ســين کې لامبي

زمونږ په بـــرخه ، دعمرونو شپه ده

ډيوې خاموشې ، ميکدې ويجاړې

آلمان ـ ۱۹۹۳/۸/۶

لولیِ دنیا

بیا یې خـــوارِه خـــوارِه یادونه په ما لوبې کوي

بـــیـــا یـــې خـــنـــدا ده چې زما په ژړا لو بې کوي

بـــیـــا مـــې ریـــښې ریـــښې لمنه له اغزو ډکه ده

بـــیـــا دخـــزان سیـــلیِ دګل پـــه خندا لو بې کوي

بیا مې ځلیږي دښـو پـــه ســـر لـــړزانـــده ستوري

بیا مې دتو ري شپـــې قسمت ، په رڼا لوبې کوي

مـــغـــل کاتـــه یـی هیروي رانه انګریـز وختونه

خوشحال غیرت مې دشملې په رڼا لوبـــې کـــوي

خمونه تش ، ساقي خمار ، زه دعمرونـو تـــړی

بدل مهال دی صراحي په صهبا لـــو بـــې کوي

کلـــــه دمـــا ، کلـــه دتـــا ، کلـه دبل غـیږه کې

لولیِ دنیا ده ، هم په ما هـــم په تا لوبـــې کوي

دزړه تو تې تو تې ښیښه مې داشنـــا په لاس کې

لکه ماشوم یې دشـــغـلو په ځـــــلا لـــوبـــې کـــوي

هغه چې وژني مـې په مـــړي مـــې هـــم هـــغـه ژاړي

شـهـيده ســاه مـــې د قـــاتـــل پـه ژړا لـوبـې کوي

ګلبويه زلـفـې يـــې خـــورې ورې د بـــاد پـــه اوږو

لکه قصې د مينتوب چـې پـه چا لـــوبـــــې کـــوي

نـــه مـــې ما ضـــي په شـغلو پټ نه مستقبل په ستورو

پرون ايرې ، نـــن مـــې لـــوګـــــی په صبا لوبې کوي

آلمان ۶ /مارچ/ ۱۹۹۴

دوينو پسرلی

پســـــــرلی پـــه وطـن راغی
خـــو نـــــه ګل او نه بورا شته
نـــــه پـــه باغ کې غوټی خاندي
نـــه ګلـــونـــــه په صحرا شته .
* * *

نـــه دغـــرولـــمنې شنې شوې
نـــه شپونکی نـه يې شپيلی شته
نـــه د مـيـــرو قـطـــارونـــه
نـــه کـــوچی نـه يې کيږدی شته
* * *

نـــه دمشـکو کاروا ن راغـــی
نـــه د عطـــرو وزر خپور شـــو
نـــه بيديا پـــه ګلـوپـتـــه ،
نـــه سپيره چمن سمسور شـــو .
* * *

نـــه پـــه غـــرونـو غوړيدلي
شنې قالـيـنـې دشنيـلـيـو
نـــه لـــه ونـــو پـورته کيږي
آوازونـــــه دمـــــرغـيـــــو
* * *

نـــه دشـنـــو ويـــالو په غاړه ،
تـــوکيـــدلـــي ســره ګلونه
نـــه پـــه دښـتـــو کې بـليږي
دغـــاټـولـــو څـراغـــونـه
* * *

نـــه هيـــلی په هـــوا راغلې
نـــه د زانـــو زنـــځيـــرونـــه
نـــه آواز د تـــوتـــکـــيـــو
نـه د ســاچـو پـــروازونـــه .
* * *

نـــه دنـيـمـو شـپـو سنـدرې
نـــه هـــی هـــی دکاروانـونـــو
نـــه شوګير دعـــاشـــقـــانـــو
نـــه تـــودوخـــه د عشقونو .
* * *

نـــه بـريښنـا د سپينـــو ليچو
نه د شنو بنګړيـو شـور شـتـــه
نـــه ځـلا د بـارخـوګانـــو
نـــه د سرو مـــچکو اورشته .
* * *

پسرلی پـــه وطـــن راغـــی ،
خـــو نـــه ګل او نـــه بـلبل شته
نـــه د پـيـغلو خنـدا ګانـې
نـــه ګـلونـــه په اوربل شته .
* * *

نـــه دريـــاب دريابصهبا شته
نـــه څـپې څـــپې مستي شته
نـــه جـنـــون د تـــودو غـيـرو
نـــه دمـيـنـې ليـــونې شـته .
* * *

نـــه خـــوشـحـــال تـــوره ترلې
د افـغـــان دننـــګ لـــه پـــاره
نـــه ولـــس لښـــکـرې ايستي

دمـــغـــل اورنـــګ لـــه پـــاره .

* * *

د زردشـــــت اورونـــــه مـــړه دي
دســـوما پـــيـــالـــــه نسکوره
دبـــابـــا پـــګـــړۍ ده جـــړه ،
ابـــۍ نـــاستـــــه ده سر توره .

* * *

دکـــابـــل لـه ســـــوي زړه نه
شنـــــه دودونـــــه پـــورته کيږي
لـــه زاړه بـــــالاحـــصـــــاره ،
فريادونـــه پـــورتـــه کـــيـــږي .

* * *

دبـــخـــدي پـــه کـــنډوالو کې
دکـــــارغانـــو شـــورماشور دی
دهـري پـــه ديـــوالـــونـــو ،
دګـــونـــګـــانو وزر خپور دی .

* * *

درستـم دتـــخـــت لـــه پـــاسه
ګـــيـــدړ نـــقـــــل دزمـــري کـــا
دګـربـت پـــــه آشيانه کـــــې
تـــپـــوس ناست دی سروري کا .

* * *

دهـــلـــمـــنـــد پـــه ورشوګانـــــو
داغـــزيـــو بـــــاران ووري
دزاړه بـــســـت پـــه مـــانـــيـــو
دســـرو ويـــنـــو ګلان ووري .

* * *

لـه ګلـــزاره نـنـګـرهـــاره
دګلـــونـــو ځـلا تـلـلـې
دروښـــان پـــه کـالـه ویر دی
د خـــوښـیـــو لـیـلاتـلـلې .

* * *

دنـارنـجـو ستـونـي غوڅ دي
دښوون ښـاخـونـه پـــرې دي
دبـــلـبـــل ژبـه ګـونګـې ده ،
دبـــورا وزرونـــه پـــــرې دي

* * *

الـــيـنـګار په اور کـــې سوزي
الیشـــنـګ پـــه اور کې سوزي
دود جګیـږي لـــه پـــا میـــره ،
لوی سـالنګ په اور کې سوزي .

* * *

د پـــــردي بـــهـــار وږمـــې دي
راچلـیـږي پـــه وطـــن مـــې
دغـــلـیـــم دفـــکـــــر دوړې
راخوریـږي پـــه وطـــن مـــې .

* * *

پـــه عـــزت پـوري مـو خاندي
سپـــــکاوی مـــو د شـملو کا
سپینوي مـــو ، تـــوروي مـــو
مسخرې مـــو پـــه پـښتـو کا .

* * *

دې بهـــار بهـــار وطـــن کـــې
اوس خـــزان خـــزان میـشته دی
په دې ګل ، ګلبڼ هیـــواد کـــې ،

داغـزو کاروان مـــیشتـــه دی .

* * *

دې خـــنـدا خـنـدا هیواد کـــې
ا و س ژ ړا ، ژ ړا ، ژ ړ ا د ه
دژوندون نـغمـه خامـــوشـــه
دمـــــرګـــونـــو واویـــلا ده .

* * *

هـــره شـپـه لـــه شنـــه آسمانه
ستـــوري لـــویـــږي ،رانـړیږي
درنـــــا دبـــام لـــه پـــاســـه
دتـــیـــارو ډمـــې نـــخیـــږي .

* * *

شـــبنـــم ســـور دی ، ږلی سره ده
چمن ســـور دی ، بیدیا ســـره ده
شونډې سرې ، خبرې ســـرې دي
خنـــدا ســـره ده ،ژړا ســـره ده.

* * *

بـــیـــا د ویـــنـــو پـــســـرلی دی
بـــیـــا دویـــنـــو بـــارانـــونـــه
بـــیـــا دویـــنـــو غوټی خاندي
. بـــیـــا د وینـــو ســـره ګلـــونه

آلمان

اپریل ۱۹۹۴

درنا په بنو

دمجنون دزړه تـنـهـاکه ، دلیلا په بـنـهـو زانـگم

څاڅکی اوښکه دحسرت یم ، دآشنا په بنو زانـگم

دپـرون سپـیره یـادونه ، دسبا زرغونې هیلې

دزخـمـي مـاضـي پیغوریم ، دسبا په بنو زانگم

دامید پـلـوشه تـتـه ، دتـیـارو ډیـوه روښانه

په دې تکه توره شپه کې ، درنا پـه بـنـهـو زانـگم

دحسین سا قي تر څنگه ، صهبا پـیـاله نـسکوره

دلمبو دخدای په وړانـدې ، دگناه په بنو زانگم

دخندا په اوږو وړمـه ، جـنـا زې مـې دخوښیو

دماتم په لمن لو بم ، دخـنـدا پـه بـنـهـو زانـگم

هلته سر دیار په وره کې ، دلته سر پـه زنـگانه یم

هلته خاورو سره خـاورې ، دلته بـیـا په بنو زانگم

په مذهب دبد مستی کې ، نه کافر نه مسلمان شوم

خـم په سـر پـو رتـه کومه ، دصهبا په بنو زانگـم

آلمان /می /۱۹۹۳

د شپې په څنګو کې

یو ځلې بیا لږ ښکاره شه ، زلفې وښوروه

د حسرتونو میلمنه شه ، زلفې وښوروه

د شپو په څنګو کې مې شپې دي ، شپې په شپې تیروم

د لمر خاتـه دوخت شغله شه ، زلفې وښوروه

یوسف تری لاړو د کنعان کوڅې شوې شړې پاتې

د زلیخا د مخ جلوه شه زلفې وښوروه

ترخه خمار مې زهر جنې کړې ترخې د ژوندون

ته د صهبا ډکه پیاله شه رلفې وښوروه

لکه خوبونه راته ښکاري مسافر وختونه

ته د یادونو سلسله شه ، زلفې وښوروه

سبلې د منې باغ په باغ ګرځي ګلان رژوي

د پسرلي خوږه وږمه شه ، زلفې وښوروه

ګوره دا مات سر مې چې هېڅکله ټیټ نه کړې چاته

زما پښتو زما شمله شه ، زلفې وښوروه

آلمان ۲۴/ ۴ /۱۹۹۴

داغز په څوکو

دايې دوصل ، انتـــظار بـــاســـم

کـه داغـــزو پـــه څـــوکو لار با سم

په سر ورځمه په پـــښـــو ورځـــمـه

دا ځل آرمان مې د ديـــدار باســـم

نن يې ساقي راته په خم کـــــې راکه

چـــې د تـــمام عـــمر خـــمار باسم

شـــپه لـــه مانښـــامه تر سهاره پو ری

زړه کـــې تصويـــر مې د دلدار باسم

د خيـــال پـــه ګـــوتو مې د زړه په دړه

انـځور د مينـــې د مـــزار بـــاســـم

تـندی په تشو ســـجدو نه سولـــوم

د عشق نـــاره په ســـر د دار بـا سم

د پر خې ستر ګو کې هينداره ګورم

پښـــې مـــې د تـيږو له بازار باسم

آلمان نو مبر /۱۹۹۲

د دوزخ په څنډو

راشه تر څنګه مې حسینه ساقي

دزړګي سره نازنینه ساقي

راکه دریاب ، دریاب جامونه راکه

دعمر تربې یم ، خمونه راکه

ساقي سکروټې راکه ، اور راکه

درد راکه ، چیغې راکه ، شور راکه

دخم تر څنګه مې بسیا که ساقي

داګونګه ژبه مې ګویا که ساقي

دشپې په دښته کې مې شپه ده ساقي

شپه مې دزړه په کور خپره ده ساقي

راکه دمیوو سبا وون راکه

درنا جام راکه ژوندون راکه

راکه دلمر غوندې روښانه شراب

راکه بې پیله بې پا یانه شراب

هغه شراب چې پکې ځان ووینم

ځلا دحسن دجانان ووینم

چې پکې هیر کړم دابې خونده ژوندون

دابـې ثـمـره ، بـې ګرځنده ژونـدون

چې پکې ډوب شمه ، چې ورک شم پکې

چې له درند و غمونو سپـک شـم پکې

* * *

سـاقـي بـيـا راغـې دغـمـونو مانبام

تياره مانبام دما نبـا مـونـو مـا نبـام

ساقي راځـه چې زمانـه بـله شـوه

لومه شوه بـله اودانـه بلـه شـوه

بيا زوړ زاهـد پـه تـوبـو بار راغلی

بيـا ددرو غجـنې تـقـوا وار راغـلی

بيـا مـحتسـب دی بـيـا تکفير دمينې

بـيـا دتسبو لړ شـو زنـځير دمـيـنې

* * *

سـاقـي بـيـا راغـلـل دخزان بادونه

اورين بـادونـه دتـوفـان بـادونـه

بـيـا دوړمـې سينه کـې سا وچه ده

بيا دغوټې خوله کې خـنـدا وچـه ده

بيا د غو نچې ګريوان له غـمه څـيـرې

بیا دبلبل زړه له مـــا تـــمـــه څـــيـــرې

ساقي را ځه چې میکـــدی بـــلې کـــړو

تیاره رابره شـــوه ډیـــوې بـــلـــې کـــړو

راځه چـــې واړوو خـــمـــونـــه پـــه ســـر

تـــر خـــو ابـــو کـــې سره اورونه په سر

راغـــلې غـــم دتـــیـــریـــدلـــو نـــه دی

داوږی دیـــــو دمـــړیـــدلـــو نـــه دی

دفلک ســـترګې ریـــا کاری ســـتـــرګـــې

درغجنې ستر ګې ګناهکارې ســـتـــرګې

بیا خونړی ښکاري بیا سرې ښـــکاري

بـــیـــا داورونـــو سلسلې ښـــکاري

* * *

ساقي راځه چې بیا پیالې جـــګې کړو

پټـــو مستیو نـــه پـــردې جګې کړو

راځـــه ویـــدې نشې راویښې کړو بیا

بـــلې لمبې نشـــې را ویښې کړو بیا

بـــیـــا درنـــدانـــو هنګامه جوړه کړو

بـــیـــا د مستانـــو غلبلبه جـــوړه کړو

بـــيـــا د غـــوټې سترګو کې ناز وګورو

بـــيـــا پـــه دانـــه کې دژوند راز وګورو

واورو د ګل د غـــورۍبـــدو ســـنـــدره

د شـــنـــه غـــزل د ټـــو کـيـد و سندره

د مـــيـــنـې لـوبـــه پـــه فکرونو نه شي

په خامو خامو تـــد بـيـرونـــو نـــه شـــي

مينه د زړونـــو بلـــيـــدنـــه غـــواړي

مـــيـــنـــه له ســـره تـــيـرېـــدنـــه غواړي

مينه پـــه اوښکو کـــې خـــنـــدا لـــټـــوي

مـــيـــنـــه ســـکروټـــو کـــې بـــقـــا لـــټـــوي

راکه د مينـــې پـــه نـــوم اور راکـــه

راکـــه د تـــاک د ستـــرګو تـــور راکه

ســـاقـــي له ځـــانـــه ورکيدل غواړمه

د مـــيـــو و جـــام کـــې ډوبـــيدل غواړمه

خندا مې هيـــره لـــه ژړا نـــه پـــر دی

له ځـانه تـللی له دنـــيـــا نـــه پـــر دی

ساقـــي د لويـــې ګناه تـــور مـــاتـــوم

دا دوزخـــي تـــنـــده پـــه اور ما توم

چا ځان بدل کړ، چا کـو څـه بـدلـه

څوک د رنګو نو پـه خـم و لمبـبـدل

څـوک د وخـتـونـو پـه باد ورپېدل

څوک مقتدي او ځوک په امـام پسې لاړ

څوک په انګور او څـوک جـام پـسې لاړ

څوک يې کعبه څوک بـتـخانه کې غواړي

څوک يې د سهوې يه سجـده کې غواړي

خو:

زه لـه سـجـدوو زه له بتانو ستړی

زه له دروغجنو امـامانـو سـتـړی

زه نا آشـنـا پـه نا آشنـا کلي کې

ستر ګې نمجـنـې د خـنـدا کلـي کې

زه ګنا هګار زه بې ګنـاه ګـنـا هګار

زه د سپيڅلې اقـتـدا، ګـنـا هـګار

سـاقـي په ميوو کـې لمبل غواړمه

د ګناه پـيـتـې سـپـکول غـواړمه

لـه ځـانـه تـنبـتـم د جانان په هيله

له کوره وځـم د بـيـا بان پـه هيـله

زه د دوزخ په ځنډو ولو بیدم

زه د جنت ګلو کې وسوزیدم

زه د کوثرو په خیال وزنګیدم

زه د وختنونو په تال وزنګیدم

ما خپله ورکه پیدا نه کړه چېرته

ما هغه تللې زما نه کړه چېرته

د نور په هیله په تیارو واوښتم

د ګل په لټه په اغزو واوښتم

په سپینو سپینو کې تور ولیدل

غوښتل مې نور څه، خو ما نور ولیدل

راکه ساقي راکه سپېڅلې اوبه

د تاک له سترګو څڅېدلې اوبه

راکه چې ویې څښم لمبه، لمبه شم

اور شم، سکروټه شمه، سره لمبه شم

ساقي راغلی یمه وار ما توم

ساقي د ټول عمر خمار ما توم

آلمان / اپریل /۱۹۹۳

ښکار

کلونه وشول، بسرلی نه راځی

څمکه بوره پاتې ده،

شړشم چا ونه کرل.

زمونږ د کلی بزګران،

لیندی پهلاس،

ښکار ،

د کوترو کوي.

زه به د ګلو ، زیړي، غونچې،

د آشنا ،

زلفو ته،

له کومه

راوړم

کابل

کب/ ۱۳۴۹

ګزمه

د بـاد ګـزمــه ده د بـاران ګـزمــه ده

زمونږ پـه کلی د تـوفــان ګـــزمـــه ده

بـــيـا مــې د زړه پـــه دي تالا جـونګړه

د غـــم ګـزمــه ده د خپـــګان ګـزمه ده

نــه د ګل بـوی،نــه د بـلبـل سنـــدره

پـــه بـــاغ او راغ کـــې د حزان ګزمه ده

تـر څـــو بـــه ژاړي د اغـيـــارو ستـم

زړګـــيـه،تـــم شــه،د جـانـان ګزمه ده

پـــه ګلـو اوری د سکـــروټـــو ږلـــی

د خـــدای حـــرم کـــې د شیطان ګزمه ده

ژاړي پـــه ســـرو سترګو نیمزالي غوټی

پـــه چـمـــن ګډه د تـــالان ګـزمـه ده

نـــه مـیکده اونـه کعـــبـه پـــاتـې شوه

کلـــه د" شبـــخ "کله د" خان "ګزمه ده

۱۹۹۶/ ۵/ ۱۹ آلمان

اغزني توبې

خـولـه يـې له شونډو په سـلام اخـلم

لـه خـپـلـه بـخـتـه ، انـتـقام اخـلـم

ســاقـي تـندی دې راتـه مه ګونـځوه

نــن يـې له مـستو سـتـوګو جام اخلم

زاهـده ستـا دې وي اغــزنې تـوبې

زه لــه غــو ټـيـو نـه پـيغام اخلم

کــه دې خندارانــه پردې شوه نو څه

خــپـلو دردونـو نـه بـه کـام اخـلـم

د مــخ کــابـل دې رانه مه سپموه

نـاز دې پــه ستــرګو تر باګرام اخلم

هــره شـبـبـه شــې ګـلور ينه راته

چــې د أشـنـا کوځـه کې ګام اخلم

آلمان

۱۵/۵/۱۹۹۴

ساقي دګلو وخت دی

ساقي دګلو وخت دی ، یوه مسته پیاله راکه
له عقله مې پردی که ، په جنون مې مبتلا که
ډیوې دمـــیوو بلې که ، تیارې رڼا رڼا که
ماتـم له ســـره واړوه ، وختونه په خندا که
دزهد شپه سبا که درواغجن زاهد رسوا که
دجام په لمبو پـــاکې ، تورې ننبې دتقوا که
څـــپې درڼا پورې که ، په تورو ماښامونو
دشپې زلفی جړاو که ، دسکروټو په لالونو .

* * *

په شنو دښتـــو راوختې لښکرې دسرو ګلو
ککې دوریځو سرې شوې دالماسو په لونلو
راخـــیژي لـــه چـــمنه ، آوازونه ، دبلبلو
غـــاټولو په سر ایښي رنګینه پیالې دملو
غـــونچې دګلو راوړې مستو پیغلو په وربلو
وړې زلفې یې خیشتې کړلې په عطرو دسنځلو
څـــپې شـــوې درنګونو په تمامې دنیا پلنې
په سرو غمیو ډکې شوې دشنه آسمان لمنې .

* * *

ساقي دګلو وخت دی ، ګلالي شول غاړې غرونه
درنګ په سین کې لامبې ، یخ وهلي ګلکڅونه
دغـــره پـــه درې کاږې لمر ، دزرو انځورونه
په شنه سهار کې پرانیستل ، غوټیو ګریوانونه
پـــه خـــړو دښـــتو اوري ، دیاقوتو بارانونه
سپـــرلي پـــه غـــاړه راوړل دسنبلو امیلونه
په غره او په راغه کې ، دوړمې زلفې خورې دي
له ځمکې خوټیدلې بیا درنګ اوبوی چینې دي .

* * *

ساقي دګلو وخت دی ، بیا دوران شو دمستیو

په مړو بوټو کې وچلیـــده ســـا د پسرلیو
پیغام دژوند راوړی غزلبولو تـــوتـــکیو
ددښتې ناوې کیښودل خالونه د کیـــږدیـــو
قالینې غوړیدلي ، په ډاګونو ، په غونډیـــو
صهبا په تړیو ویشي خوږې شونډې د شهـــیو
دمشکو عطر وشیندل په غرونو کې هوســـیو
اوږې دغوټې پورې شوې د څانګو په غړیو .

* * *

ساقي دګلو وخت دی راچې پورته کړو جامونه
په چیغو کړو روښانه ، دا خـاموشه ماښامونه
دتورې تروږمې په زړه کې بل کړو سره اورونه
د درد په ستنـــــه و ګنډو ، د زړونو پرهرونه
دشپـــې زلفو کې وټومبو ، دسپین سهار ګلونه
د باغ له سترګو ووینځـــو ، د یخ ژمي خوبونه
راووځو له ځانه او ورګډ شوو په جهان کـــې
ځان ووینو له سره بیا په سترګو د جانان کـــي .

* * *

ساقي د ګلو وخت دی ، بهارونه لا ژوندي دي
دتاک مـړاوو رګونو کې اورونه لا ژوندي دي
دمینې دردآبـــاد کې ، فریادونه لا ژوندي دي
دسترګو په چینو کې ، دریابونه لا ژوندي دي
لا ماتـــې ارادې نه دي ، هوډونه لا ژوندي دي
لا سوي پتنګان نه دي ، اورونه لا ژوندي دي
دا بـــاغ به بـــیا خړوب شي د بلبلو په سندرو
دا ونـــې به سینګار شي ، درنا په مرغلرو .

کابل

وری ۱۳۷۰

دنکریزو پانه

هیله دوږمـــي شوم،په قدم دبهـــــار پریوتم

سیوري دغـونچې شوم،دبلبلو په ښـــارپریوتم

شین ښایست دګلو مې په سرو لمبو کې ومونده

پانـــه دنـــکریـزو شوم،په ګوتو دیار پریوتم

سوز مې په سلګو کې درباب دساندو واخیسته

ساه د سربنـــدي شوم ، په نغمه کې د تار پریوتم

تا خـــو د یار غمه ، زمـا ټوله هستې خپله کړه

زه لکـــه ملنګ ، دخپـل ارمان په مزار پریوتم

ته لکه لمـــبه ، زما دزړه له کلې پورته شـوې

زه لکه ایـــره ، په خوږ لنیزه انګار، پریـوتم

المان

دسمبر ۱۹۹۸

د کابل غمیزه

جنګ دی ،جنګدی ، په څپیلي کال جـنګ دی

بیا په ښکلي ، نـازولي کابـــل جنـــګ دی

دود یې خیژي له ســوري ســوري ګـــوګله

بیا په سوي ، نړیــدلـــي کابـــل جـنګ دی

* * *

کابـل نــه دی ، کــربـــلا ده ، کابـل نه دی

دوحشت خړه بیدیـــا ده ، کابـــل نـــه دی

هره خواته پکې چـــیغـــې دي ، ماتـم دی

مروره تــرې خـــنـــدا ده ، کابـــل نـــه ده

* * *

کابـــل ژاړي ، نــازولـــی کابـــل ژاړي

دښـمنـانـــو ، زورولـــی کابـــل ژاړي

چې مدام به یې خوله ډکـــه لـــه خـنـــداوه

اوس غمـونـــو دردولـــی ، کابـــل ژاړي

* * *

بـــیـــا ژړاده دکابـــل هـــره کـوڅـه کـې

واویلا ده دکابـــل هـــره کـــوڅـه کـې

يـــزيـــدانـــو هـــره خـــوا تـــورې ايستلي

کربـــــلا ده دکابـــــل هـــــره کـــوڅـــه کې

* * *

پـــــه کابـــــل بلا پـــريوتـې ، وطنـــوالو

پـــــه هـــر کـــور ژړا پريوتې ، وطـنوالو

هـــره خـــوا دوينـــو بـــوی دمرګ اواز دی

پـــــه وطـــــن وبـــا پريوتـــې ، وطـنـوالو

* * *

کابـل سو زي سرې لمبـــې دي کابل سوزي

کـــور په کور باندې جګړې دي ، کابل سوزي

سپـين ديـوان ورته دخير په غونډۍ ناست دي

دســـــکروټـــــو سلسلې دي ، کابل سوزي

* * *

کابل وران شو ، دنيکونو وطـــــن وران شـــو

دافغـــــان دغيـــــرتونـــــو وطـن وران شو

هنـــدو کشه ! ولې نه چوې ، ولـــې نـــه مرې

چـــې کابـــل ، دانـنګونو وطـــــن وران شـو

* * *

شنې لوخـــړې پـــورته کيږي ، کابل ســوزي

دپغمان انبـــــکې بـهيـرې ، کابل سـوزي

آسمايي په چـيغو چـيغو داســـى وايـــي

کابل سوزي . ايرې کيـــرې ، کابـــل سوزي

* * *

په کابل کې اوس نه پـــوهـــه نه هنر شـــته

نه کتاب شتـــه ، نه قلم شتـه ، نه اثرشـــتـه

هســـې شـــپـــه دجـــهـــالت ده را خـتـلې

چې نـه سـتـوري پکې ښکاري اونه لمر شته

* * *

يـــه زخمي زخمـي کابـــله درنـــه جـارشم

دافغان دپـــګړې ګله درنـــه جـــار شـــم

دوحـــشـت په اورکـــې سوزې ايرې کيرې

دود دې پورتـــه له ګـــوګله درنـــه جـارشم

* * *

څـــومـــره خـوار څومره بې وسه شوې کابله

چـــې ازار له ، له هره خسه شـوې ، کابـــله

دماتـم په ورځ دې هيخـوک پـکار نـه شول

تـــــر خـــو پـــيښو تـه بې کسه شوې کابله

آلمان جنوري ۱۹۹۳

د يقين په لټه

ستا دستر ګو "سيپارو "کـــې مې لوستلي

دتـــلـــپـــاتـــې خـوږې مـــيـــنې "آيا تونه "

څه پرواده که لمو نـــــځونه مې "قضا "کړل

يا مې شوندې ستا په "ذکر " سترې نه شوې

دخپل زړه "مسجد " ســپيڅــلی درته ساتم

بـــلـــــوم پکې داوښـکـــــو څـــراغونه.

* * *

چـــــی دمخ "کعبه "دې ونـــيـوه بـتـــانو,

لـــــــه تندي نه مې زاړه خا پـــونـــه لاړل

زه خو هسې دسجدو ســو داګـر نـــــه يم

نه جنت غواړم نه ســره دوزخ تـــــه ژاړم

خو "روژه "به په " طـهـورو " ماته نه کړم

که نصيب مې شول دشونـډو "ذکـاتـونه "

دکـــــو ثـــرو دپيالـو په تـــمـــه نه يم,

بس يوازې يو ديدن درځني غـــــــوارم

خپله ورکه لټوم ستا په پـــيـــدا کـــې

د "شـک " تړې د" يقين " چينې ته بيا يم

معبده مـــې په خپل زړه کې جوړه کړې

پکې ستايـــــمـــه دميني شنه يادونه

* * *

دټول عمر عبا دت به تـــرينه ځارکړم

که يوه شپه مې منلی پــه ګناه کـــړې

له رنګينو جنتونو نــه به تـــــير شم

که يوه پياله سکروټې راتــه راکـــړې

ددنيا او دعقبا پروا مـــې نـــــشـــته

ما دعشق په پښو کې توی کړل ثوابونه

۱۹۹۸ / دسمبر آلمان

جنازي

هـــره ورځ د أرمـــانونو جنازي وړو

هـــد يرو تـــه دګلونو جنـازي وړو

دبـــــادونو کرونده په اوښکو پالو

د شـــهيـــدو بـــهارونو جنازي وړو

دامـيـــد بـــاغچه دوينو جزيره شوه

دوړمـــــي دشنو وزورنو جنازي وړو

دبدرنګي شپي له سيوري نه لمر غواړو

دګلمخو سـهارونـــو جنـــازي وړو

پـــه ايرو کي لټوو دقســـمت ستوري

دهـــيندارو دياډونو جـــنـــازي وړو

کالیزه

په هغه توره اوتبجنه شپه کې ،

چې تازمور له کلي کډه وکړه

ما دې دتلو لاره ، په انبکو باندې وويښله.

او ستا دپله خاورې مې ،

په خپلو ستګو باندې ومو ښلې.

* * *

په هغه توره او تبجنه شپه کې ،

چې تا زمور له کلي کډه وکړه ،

يوه ترخه او رژوونکې سيلۍ

پوله په پوله او کوخه په کوخه وګرځيده ،

اودخندا کلان يې ورژول.

له هغې شپې نه بيا تراوسه پورې ،

زمور دکلي دبامونو په سر ،

څوک کشمالي نه کري ،

او دويالې په غاړه ،

ويلني نه تو کيږی ،

او دګودر دشنې جلګې له پاسه ،

له سرو منګیو نه یوازې څو کودي پاتې دي.

* * *

له هغې تورې او تبجنې شپې نه ،

چې پکې تا له کلي کډه وکړه

دادی کلونه تیر شول

اودزمان دکتاب ډیرې پاڼې واوښتلې ،

نه بیا دکلي دبامونو په سر ،

چا کشمالي وکړل

نه دویالو په غاړه ،

ویلیني وتوکیدل

او نه ګودر بیا په منګیو ، پټ شو .

* * *

په هغه توره او تبجنه شپه کې ،

چې ته له کلي لاړې

خندا له کلي لاړه.

ګلان له کلي لاړل

او اوس دکلي په آسمان کې ستوری نه ځلیږي ،

سپوږمۍ دوريځو تور تيکری اغوستی

آسمان له ځمکې مرور ، ځمکه له ستورو ځنې ،

وږمه له باغه بيګانه ،

ګل ،

له بلبله ،

پردی.

هره شيبه اوهره ورځ ده دماتم کالیزه ،

دغم کالیزه ،

دستم ،

کالیزه.

کابل ۱۳۶۶ ۴/۱۵

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

مانۍ که جونګړه ؟

نوره دې نه یادوم ،

نور دې دکور له مخې نه تیریږم

نور دې کوڅه په اوښکو نه وینځمه

نوردې دکلي دچنار په ډډه نوم مه لیکم ،

نور دې دپله خاوري په سترګو باندې نه موښمه

اونور دې لاره دګودر نه څارم.

* * *

آرمان، آرمان هغه خوږې د انتظار شپې مې،

چې ستا د زلفو په دار و ځړیدې.

آرمان، آرمان د هیلو تاندې نا زنینې غوټۍ

چې ستا د مینې په اور وسوزېدې.

آرمان، آرمان هغه د کلي د سنځلو ګلان

چې د نا پایه پسرلي په سهارونو کې مې

ستا د راتلو په لاره وغوړول.

اوله رنګینو امیدونو نه مې،

تا ته د زړه په سر مانۍ جوړه کړه،

خو ته یوازې د یوې شپې، یوازې د یوې،

لنډې شپې له پاره

زما د هیلو رنګینه مانۍ ته ننوتې ،

بیا دې په سرو منګلو ،

زما د زړه په وینو ،

زما د هیلو د مانۍ په دیوالو لیکل،

چې دا جونګړه خو زما د اوسېدلو نده

او بیا د تل له پاره،

زما د زړه له کوره ووتلې.

* * *

نوره دې نه یادوم،

نور دې د کور له مخې نه تېرېږم ،

نور دې کوڅه په اوښکو نه وینځمه ،

نور دې د کلي د چنار ،

په ډډه،

نوم،

نه لیکم.

کابل ۱۳ ۱۹/۴/۷۰

د باد په کنډوالو کې

کاوون توفاني

د رڼا خبره

شـپـــــه شــوه د رڼا خبره هيره شوه

تا نه چې زما خبـــــــــره هېره شوه

ستا خوارې يادونه مې پـــه زړه ووري

نور مې د هر چا خبره هېره شـــــــوه

ورانه ميکده شوه، د نيا ورانه شــوه

خم نه د صهبا خبر ه هيره شـــــــوه

ما ويل که راغـــلـــــه ورته وايم يې

باغ شو د غوټيو په سـرو وينو سور

ګل نه د خندا خبره هـيـــره شـــوه

هيره يې وعده کړه د سبا پــه نـــوم

ئکاري نـــن يې بيا خبره هيره شـــوه

ښـکاری نن يې بيا خبره هيره شـوه

پـــاتې منتظر يې ځلېدو ته شـــوم

لمر نه د ځلا خبره هـــيـره شـــــوه.

آلمان

۱۹۹۳ نومبر

د ونو ماتم

شپـــه راختلـــــي ده، سبا نشـته

تيـــاره رابـــره ره، رڼـــا نشـــته

خـمـــونـــه تش دي ميکدې ويجاړې

شرنګ د پـــيالو نشته، غوغـا نشته

بـلبـــلان ځـــي ونـو ماتم نـيـولی

د ګل پـــه شـونډو کـــې خندا نـشته

مجنون د تورې شپې په دښته کې ورک

شـغله د حسن د لـيـــلا نـــشـــته

نـــــه د تاک لور، نه يې بربنډه نـځا

هـــم يـــې لـذت هـــم يې ګنا نشته

د زاهد عمر لـــه درواغـــو نـــه ډک

يوه شـــيبـــه پکـــې رښتيا نـــشتـــه

دنيا له ښکلـــو ښاپيرو ډکـــــه ده

خوارې کاته مې د آشـــنا نـــشتـــــه

کلی هغه دی کوڅې هغه دي خـــــو

د ليونو پکې غـــو غـــا نـشتـــــه

ساقي ! ما ښام شو ډيوې ولګـــــوه

ستوري پر ېوتي دي ځلا نشتـــــــه

آلمان/ مارچ ۱۹۹۷

دسکروټو ښار

نن يې بيا خونړې خال په رخسار کيښود

په جلوه کې يې ښايست په ګلزار کيښود

عشقه،ورې يې پـــه رښتيا دسلطنت شه

دزړه تخت مې دسکروټو په ښار کيښود

له جنته دې در تـــير شـــــومه زاهده

نن مې ســرپه دروازه کې ديـــار کيښود

په تندې مې دسجــدې داغونـــه نشته

ميکده کې مې زنځير او زنـــار پريښود

زه دخپـــلو سادګيو قـــــرباني شوم

چې مې لاس په کوتنې کې دمار کيښود

پرون راغله اوريې بل راتـــه پــه زړه که

نن يې ګل راته پـــــه سوې مزار کيښود

ددې وخـــــت ناخوالې وګوره کاوونه

په سارې ژمـــې يـــې نوم دبهار کيښود

د خدای په ژبه

جانانه پا څېړه ډیوه بله که

د زړه روښانه مملکت مې تروړ میو ونیو

ستر ګې مې نه غړېږي ، لار نه وینم

هوا درنده ده دلته،

سا نه اخلم

کړکۍ می پرانیزه د باغ په لوري

* * *

جانانه پا څېړه ډ یوه بله که

زه د ابلیس په ژبه نه پو هیږم

ماته د خداي په ژبه و غږیږه

نور له دیدنه د شیطان ستړي یم

لږ راته مخ د پر ښتو وښیه

لږ مې نظر په رڼا ولمبوه،

لږ مې د لمر په څنو وزنګوه

لږ راته حوري د شغلو وښیه

پدې درنده هوا کې ،

یوازي کرکه ووري ،

کرکه خاندي،

کرکه نا څي ،

او د خوږې مينې تنکي ګلونه

دو چو شوندو په سپيرو د ښتو کې و سو زبدل.

يوازې کرکه ده چې نا څې د ابليس په ژبه،

زه د ابليس په ژبه نه پو هيږم،

ما ته،

د خدای ،

په ژبه،

و غږيږه

کابل غبرګولی ۱۳۷۱

شاړې کوڅې

وران دی مالتونه، کوڅې شـــــاړې دي

لور په لور غمونه، کو څې شـــــاړې دي

سوزي مې د کلي شنې با غچې پـــــکې

بل دی سره اورونه، کو څې شـــــاړې دي

لاس کې مې دمینې ګلان مـــــړاوي شول

جړ دي وربلونه، کو څـــــي شـــاړې دی

نه د پېغلو جوش نه د زلـــمـــو خـــروش

شړ دی ګودرونه، کو څـــي شـــاړې دي

وخت د بې ننګۍ دی دنیـــا بـــلـــه ده

مړه دي غیرتو نه، کوڅـــې شـــاړې دي

نه د سهار ستوری نه د لمر څـــړیـــکه

بر دي تورتـمونه، کو څـــې شـــاړې دي

تشې میکدې، خـمـونه تش پـــراتـــــه

تش پکې جامـونه، کوڅې شـــاړې دي

زانګي مې قسمت د شپې په زلفـــوکې

شپې دي او خيالونه، کو څې شاړې دي

تللې ده خندا نــوره لـــه کلـــي نـــه

ووري ما تمونـه، کو څـــي شـــاړې دي

تيتې چې شملي شوې جنډې جکې شوې

سره شول مزارونه، کوڅې شـــاړې دي

توره تـروړمـــې ده لارې ورکـــې دي

مـــړه دي مـشالونه، کوڅي شـاړې دي

آلمان اپريل ۱۹۹۶

خوب

ويده وم خوب مې ليده،

چې د شپې دروند او پړ سبدلی بدن،

زمونږ د کلي د غونډې له پا سه

د سپين سهار،

په دار،

ختلی ،

ځړېدلی، ښکاري

ويده وم خوب مې ليده

چې د لمر پېغلي او زريني، نا زنيني لونې،

زمونږ د کلي د ګلبو ټو په قالينو باندې،

خاندي،

مستي موي،

نڅاوې کوي

او په خمارو، شپو وهلو ځانګو وښتي د رنا جامونه.

ويده وم، خوب مې ليده.

* * *

ويده وم، خوب مي ليده،

چې يو بيساري، ګلالي پسرلي،

زمونږ د کلي، باغ، په سراخيستی،

او د غو ټيو بهير،

زرغونو لښتو کې څپې، څپې رنګونه کړي.

ويده وم خوب می ليده،

چې ډلې، ډلې کليوالې مسافرې مرغۍ،

بيرته ستنېږي له پردیو نا آشنا پا غونو،

او بيا له ډېرو کلو وروسته،

د خپل کلي،

د چنار ،

په څانګو ،

د ناز خوبونه کوي

ويده وم،

خوب مې ،

ليده ،

خو چې را پا ځېدمه،

سترګې مې پرانيستلې،

و مې ليدل

دشپې بو يناک او پړ سيدلی بدن،

لکه ورسته او کر غېړنه وړمه،

زمونږ د کلي په کو څو کې لا تر اوسه جاري،

او د لمر، پېغلې،

نا زنينې،

او حسينې

لونې ،

زمونږ د کلي د ديوال تر شا هما غسې په خوب ويدې وې

او باغ،

تر اوسه،

رژېدلی،

ننښتېځلی ،

پروت دي.

نه غو ټيو بهير،

نه د ګلونو کاروان،

نه د رنګونو څپې ،

نه د مرغيو د وزرونو ، اوز،

او نه د لښتو تنفس،

چمن،

خالي،

له ټولو.

يوازې شپه،

يوازي دود ،

يوازې خړه و سپنيزه هوا ،

زمونږ د کلي په کو څوکې ، جاري.

المان

نومبر ۱۹۹۵

نا هيد

توره شپه کې بله کړه د سرو وينو ډيو ه نـــاهـــيـد

چيغه د پاڅون شوه د ننګونو حماســه نـــاهـــيـد

اوريې د ابليس د هـــوســو نو په کور پـــورې که

ووته له ځانه، شوه د ټول ولس شـمله نـــاهـــيـد

پانې ، پانې پربرته د سرو ګلو غو نـــچه نـــاهـــيـد

وځلېده ،وخند بده، سرو وينو کې ســره نـــاهـــيد

هغه د ملالې د يادونو سره جنـــډه نـــاهـــيـــد

هغه د اقغان د غير تونـــو تـــرانـــه نـــاهـــيـــد

ګډه يې غوغا کړه په خامـــوشـــو ماښـــامونو کې

بـــله يې ړنا کړه، تـــرورېمـــيـو د وخـــتـونـــو کې.

* * *

ګل د ببغلتوب،يې د قاتـــل د غـــارې هـــار نـــه کـــه

ښاد يې په خپل حسن د وحشي هـوس ښـــامار نـه که

" نـــــه " يـــــې د قدرت د لېونو پر تندي وليکل

لړ د تورو زلـــفـــو يـــې بـــې سرو ته دستار نـــه کـــه

لنډ يې که له ځانه د يـــاغـــي ستـــم نـــاولـــــي لاس

تور دښمن د خلکو يې له ځـــانـــه ســره يار ته کـــه
جګ غيرتې سر يې ټيټ په مخ کې د اغيار نـــه کـــه
ځان يې قرباني که، خپل غرور يـــې تر بڼه ځار نـه کـــه
ستوری شوه، سپوږمۍ شوه، د ننـــګونو بام ته وخته
کړيکه د، غيرت شوه، د يادونـــو بـــام تـــه وخـتـــه.

* * *

ووايه اسمانه! تـــا د ويـــنـــو ځـــلا ولـــيـــده
تـــا د شـــهـــادت د نـــاوې، مسته خندا ولـــيـده
تا په خپل هيواد باندې مينـــه لـــيـــلا ولـــيـده
تا په خپل هيواد بانـدې مينـــه لـــيـــلا ولـــيده
تا يې پـــه تـــنـــدې باندې ليکلې وفـا ولـــيده
تا يې په خوږو سترګو کې راز د مينـــې ولو ستـــه
تا يې اننګيو کې سپېڅـــلې حـــيـــا ولـــيـده
تا هغه سپر غۍ، هغـــه د تورو بربښنـــا ولـــيـده
تا يې پـــه لمنه کې د ستـــورو نـــڅـــا ولـــيده
وګوره اسمانـه! مـــوږ ســـرونه تـــيـــتـــوو ورتـه
خـاورې د پښو يې پـــه سرو سترګو ښکلوو ورته.

* * *

ووايه اسمـــــانه تا د شپې قا صـــــدان ولـيـدل

تا د پرښتو جامـــــه کې تور شيطـانـــان ولـيدل

تا د افغانـانـــو د عـــزت تـــاجـــران ولـيـدل

تا د وينو تـــرې، خـونـــړي قـصابـان ولـــيـدل

تا په کتا بونو بار بې علـمـــه شيخـــان ولـــيدل

تا دکنړوالو په تـخـت سپـــاره اميران ولـيـدل

تا دننګ په خـــاوره کـــې زنګي غلامان وليدل

تا دچـــلتارو نـــو دهـــيواد ملنګان ولـــيـدل ؟

څنـــګه ښـــکاريدل دتـــرورېميو دښامار بـــچي

دا په غيرتي کابل ، پـــريوتـــي دنـاتـــار بچي.

* * *

دا زخمي کابـــل ، دغـــه په سرو وينو لړلی ښار

داد اهريمن ، تـــورو منګلو تـــه لويدلی ښار

دادتـــا لانـــګروله ستـــمه سوزيـــدلی ښار

داپـــه پـــتـه خـــوله پـــه سلو ژبو غږيدلی ښار

دا هره شيبه په ماتـــمـونـــو ژړيـــدلـــی ښار

دادګلو ښـــار ، زمـــوږد پيغـــلو نازولی ښـــار

داپـــه جـــګه غاړه هردښمن ته دريـــدلـــی ښار

دادیـــرغـــلګرو دسپـــرو دستـرګو خـــلـــی ښار

بـــیا دخپلو لونـــو او زامنـــو پـه ویـر ، وژړیـد

بـــیـا دغـــوانـــو زړونو په زلمیو وینو ولمبـــیـد

* * *

یه اسمانه ، دلته خومرګونـــه ستړي شـــوي دي

چیغې ستړي شوي ، فریا دونـــه ستړي شوي د ي

لارې ستړې شوې دي ، ګامونـــه ستړي شـوي دي

اوښکې ستړې شوي ، ګریوانـــونه ستړي شوي دي

هیلې ستړې شـوي ، ارمانـــونه ستړي شوي دي

زړونه ستړي شوي دي ، غمـونه ستـړي شوي دي

دلته په جنت کې دوزخـــونـــه ستـړي شوي دي

دلته په ګلونـــونـــو کې اورونه ستړي شـــوي دي

دلته پـــــه دې خاوره ، دستـم غـــدې پریوتې ده

دلته پـــــه دې خلکو ، دماتم غـــدې پریوتـــې ده .

* * *

وګـــــوره اسمانـــــه ، اراده دپـــیـکار وګـــوره

لاره دغیرت کـــــې ، هـنګامه دایـــشار وګـــــوره

ژمي دتـــــاریخ کې سره غاټـــــول دبـهار وګـوره

سره غيرتي وينه د ناهيد په رخسار وګوره
دلته ويره نشته له سرونو سره لوبې دي
دې لمرينه خاوره کې ، دستورو مزار وګوره
پاکې پلوشې به يې دشپې ګريوان ور څيرې کړي
پيغلو دکابل سره ، ترون دسهار وګوره
دا يا غي ککرې اهريمن ته دسجدو نه دي
دلته دستم توري جنډې درپيدو نه دي.

آلمان

مارچ ۱۹۹۴

راځه چې وژاړو

راځه چې وژاړو په چيغو چيغو

دلته خو نور څه د خندا لپاره پاتې نه دي

* * *

دلته رنې مېکدې وسوزېدې

دلته نشې په ويرو بدلې شولې

چې د مستيو هتکامې وې پکې،

لاړې هغه کوڅې ، شړلې شولې

دلته، وحشي بادنو ټول ګلونه ورژول

دلته تر خو سپلیو شنه باغونه و سوزول

چې ستا راتلو ته يې شېبې شمېرلې

چې ستا پلو نه يې په عطرو وينځل

هغه تنکی،

تنکی،

غوټی،

بهاره، پاتې نه دي

* * *

هلته چې ما او تا ، د مينې په سپېڅلي نامه،

د زړونو شمې، د قصو په ښار کې بلې کړلې

هلته چې مور د شپې وزرونه، په لمرینو پلوشو و تړل

هلته چې مور د مرجاني اوښکو ځلانده غمي

د ارمانونو د مانې په دېواله وټومبل

تاندې غوټې مو د وړمې په لار کې کړلې

کودړي هم اوس د قصولە ښاره پاتې نه دي.

* * *

دلته د تاک ونه کافره بولي،

دلته سندرو ته زندې اچوي

دلته د پوهې دروازې تړلي

دلته، تخته او تبا شیر اوس شیطاني توري دي.

قلم، څوک نه پېژني ،

کتاب معنا نه لري

دلته په شونډو اوس یوازې د ټوپک قصه ده،

د الفبې، خوږې نغمې له خونړي نا تاره پاتې نه دي

* * *

هغه د کلي سپیدار، او هغه جګې د چنارونې

چې یې سرونه رسیدل تر شنه اسمانه پورې،

د مجنون ولې غوندې،

اوس يې سرونه په پښو لګيږي

اوس هغه سبر قامتونه، يا ره پاتې نه دي

راځه چې وژاړو،

په چيغو،

چيغو.

د باد په کجاوه کې

ملا د باد په کجاوه کې راغي،

ملا د وريځو د اوښانو له کاروانه سره،

په ښار راننوته

او په "خورجينه" کې يې،

يو څو نا چلې

له تا ريخه غورزېدلې

"کرښې" راوړې.

ملا، کوڅه په کوڅه ګرځي له ښارياتو نه خندا را نيسي.

* * *

ملا توپک غاړې ته واچاوه، جګړې ته ولاړ،

ملا "غزا" کوي، جامې رنګوي،

ملا په سپينو ، نا زنينو ګوتو ،

د خپل لنډي توپک ما شه راکاږي،

ملاد "کفر " په کاله باندې يرغل راوړی.

* * *

ملا په سپينه بادي اوښه باندې زين کېښوده ،

ملاته ګوره.

هم "غازي " شو ، هم "شهيد " ،

هم سلامت،

ببرته تر کوره راغی.

ملا بزګر شو ، په پټيو کې سکروټې کري

ملا د سرو لمبو ستری، ټولوي

او د لو ګيو درمنده ته له خندا شی شين دی.

* * *

ملا ياغي شو ، له "محرابه " ووت

ملا د خدای خو نه په تيږو ولي،

ملا په سر د کاغذي ګلونو تاج راوړی،

ملا د تخت په طلا يې مور ګو لا سو نه ايښي.

* * *

ملا بې سته، بې پوښتنې د جنت په دروازه ننوت،

ملا ساقي شو،

ملا ويشي د کو ثرو،

پيالې،

ملا د حورو، له غوښنو ګلابې شونډو مچکې اخلي.

ملا په سپينه او "سپېځلې" شمله بنګ و ترړل.

* * *

ملا بارن شو.

ملا، باد شو،

ملا، وورېده،

ملا د وريځو له ړندو سترګو نه و څڅېده

او ملا سپين شو،

ملا سور شو،

ملا تور وخته،

ملا د توري شپې څادر شو، په ښارو غوړيده،

او ملا سيوری شو،

خونه پوهيږم،

چې د څښتن، که د شيطان سيوری

د جانان سيوری، که د ځان سيوری.

کابل ۱۵/۳/۱۳۷۱

د باد په کنډوالو کې

کاوون توفاني

د زړه په بتکده کې

ګرځم دزړه په بتکده کې مې بتـــان مـــاتـــوم

کعبه د هیلو ورانوم، سردارمـــــان مـــاتـــوم

چې مې د خیال په تېشه و تورې په خپل ذهن کې

هغه د ټول عمر انځور مې د جانـــان مـــاتـــوم

ګدا خو نه یم چې خیرات به له فـلکه غـــــوارم

غرور د غره اوبه کوم، خوله له اســـمان ماتوم

زړه په دریاب ور ګډوم امیل د اوښـکو اوبم

سېپې د هیلو ماتوم، خوله د باران مـــا تـــوم

چې یې زمور په کرونده کې لمبـې وکـــرلـــې

بادونه ریبمه،لاسونه د تـــوفـــان مـــا تـــوم

زاهده تا که میکده کې پـیـــالې مـا تـې کړلې

زه له تو بو نه توبه ګار یـــمـــه، پیمان ماتـــوم

المان

۲۰/۲/۱۹۹۹

د اغزو په سر

خپل رانه پردي شول، د پردو په سر
ګل راته اغزي شول، د اغزو په سر
نن څومره راټيټ شولو آسمان په ما
ستوري مې ځليږي، د بڼو په سر
ژبې يې د سترګو راته وويل،
ژوند دی تېروه يې د لمبو په سر
تېر شولو بلبله د ګلونو وخت
اوس دې زنده ګي شوه د اغزو په سر
ګوره د اشنا پسرلنی ښايست
خاندي يې ګلان، د اننګو په سر
خير دی که يې سترګې دروا غجنې شوې
پالمه يې مينه، د لېمو په سر

سکروټې په جام کې

تـــوره تـــروړمـــې ده رڼا نه راځي
شپـــه ډېـــره اوږده شوه سبا نه راځي
راغی پـــسرلـــی خـــو پسرلی نه شو
بـــنې پـــه ویـــر اخته دی بورا نه راځي
ګوره چې وعدې دې د رواغجني شوی
سره و خورې ربړه آشـــنـــا نه راځي
هسې له توبو یې تـــوبـــه ګاره کـــړم
خولې ته مې توبـــه لـــه ګنا نه راځي
خاورې د کوڅې یـــــې بادوي په سر
ټول کلی مجنون شو لـــیـــلا نه راځي
جام کې مې ساقي سکروټـــي واچوه
سوی زړه ته یـــلـــه دوا نـــه راځـــي

آلمان مې ۱۹۹۴

د باد په ورانو کنډوالو کې

د باد په ورانو کنډوالو کې مې یو ګل ولیده

پانې یې زیړې، او په شونډو کې یې

د خندا ،

رنګ،

وچ و ،

نه یې وړمه پېژنده ،

نه یې قصه د غوړېدو یاده وه.

د باد په ورانو کنډالو کې مې یو ګل ولیده

د مخ کتاب یې له غمجنو افسانو نه ډک و ،

په هره پانه یې داغونه د خزان پاتې وو ،

او هر څپر کی یې یوازې د خزاناو رژېدو قصه وه.

* * *

د باد په ورانو کنډوالو کې یو ګل،

د یو پ مینې په نوم

د یو بې پا یه پسرلي په هیله،

دواړه منګولې لګولې د زمان په لمن،

دباد ،

په ورانو،

کنډوالو،

کې....

المان ۲۷/۲/۲۰۰۲

د باد په کنډوالوکې کاوون توفاني

راشه پسرليه

راشـــه پـســرلـيـــه ، دغوټيو له بارا ن سره
سيل درنګ او بوی سره دمـشکو له کاروا ن سره
راشه دغوټی له سترګو پريمـيـنځه رانجه دخوب
راشه د زخمي زخمي غـاټولـــو لـه درما ن سره
راشه چې جړاو شي پـه غميـــو ، نښتيځلی ، باغ
راشـه پسرليه ، دګلونو لـــه تـوفـا ن ســـره
راشه چې دونو په ښـــا خـــونـــو پـــانې وناځي .
باد تـــرانـــې ووايـــې ، دغـــرو مـمانې وناځي .

* * *

ژمی دی خفه نه شي دګلونو دغونچـو پـــه ځـــای
مونږ درته په لاره زخمي زړونـــه غـــوړولـــي دي
خير که وچکالي ده نه شبنم شتـــه نـــه بارا ن اوري
ستا دراتلو لارې مو په اوښکو ، پريمـيـنـځلي دي
اور مو په سر وړی ، خو ډيوې مو لګـــولـــي دي
زړه د تورږميو کې مـــو ستوري ځـــلـــولـــي دي
راشه پسرليه ! زمـــونـــږ کلي تـــه لـــمر راوله
بيرته يې پخلا کـــه ، د عـــمـــرو مـــرور راوله .

* * *

راشه چې باغـــونـــه مـــو ساړه ژمي وهلي دي
راشه چـــې ګلـــونـــه دخـــزا ن سيلی زپلي دي
راشه چـــې دبـــوټـــو پـــه رګـونو کې سا وچه ده
راشه چـــې غوټيـــو پـــه سروينو کې لمبلي دي
دښتې سوځيدلي ، چـــمـنـــونـــه رژيـــدلـــي دي
کرښې د قسمت يـــې پـــه لمـــبو راته ليکلي دي
بس دی داورونو ، دسوځـــونـــو کـــتـــاب واړوه
بـــس دی پـســـرلـيـــه ، دغـمونو کتاب واړوه .

* * *

څه دی بهار څه دی ، چې رڼا دمستۍ نه لري
سا دمستۍ نه لري ، صهبا دمستۍ نه لري
شور دمینې نه لري ، سور اور دمینې نه لري
څاڅکو دشبنمو کې ځلا د مستۍ نه لري
څه دی بهار څه دی ، چې موسکا دغوټۍ وریبي
څه دی بهار څه دی ، چې خندا دمسنۍ نه لري
څه دی بهار څه دی، چې ویدې نغمې پا نه څوي
تاندې غوټۍ ویښې نه کړي ، شنې وړمې پا نه څوي .

* * *

راشه پسرلیه ، چې دلمر ګلونه وخاندي
تورہ شپه سبا شي ، دسحر ګلونه وخاندي
باغ په خندا سر شي ، لر او بر ګلونه وخاندي
راغ غونچې ، غونچې شي پیغامبر ګلونه وخاندي
بیا د پیغلو نجونو په ټټر ګلونه وخاندي
غر په ګلو پټ شي په کمر ګلونه وخاندي
بل شي په سپیرو دښتو ، د ګلو څراغونه بیا
پورته شي ، رپانده دغاټولو بیرغونه بیا

* * *

راشه په سپیرو دښتو کې سا د ژوندون وکړه
راشه په سړو زړونو کې اور و جنون وکړه
راشه بیا روښانه که دمینې دمزلونو لار
راشه د لیلي زړه کې وفا دمجنون وکړه
راشه تږې تالې دوړمې په میږو مستې که
راشه د مانبا م په دښته ، سپین سباوون وکړه
راشه پسرلیه ، باغ ته ناوې د ګل راوله
سا ندې ترانې که ، وزرماتی بلبل راوله .

* * *

ترکې د بګرام درنه جامونه د سوما غواړي
شور غواړي ، شر رغواړي ، نغمې غواړي ، نڅا غواړي

پيغلې دبخدي درنه دردونـــوتـــه دوا غـــواړي
بيا په نو بهار کې دبهار مسته خنـــدا غـــواړي
پريږده له قفسه ، ښايسته بـــلـــبـــلې والـــوزي
دازخمي غوټې له تا نه شـــونډې دموسکا غواړي
زيب يې د پيکيو شه ، ګـــــلاب دګريوانه يې شه
سوز يې د سندرو شه ، ربـــــاب دزنګانه يې شه .

* * *

بيا به دا خزان ، خزان وختونـــه بـــهـــارونه شي
بيا به دا شړل ، شړل ډاګونه چـــمـــنـــونـــه شي
بيا به دا اغزي ،اغزي باغونه سره ګـــلـــونـــه شـــي
بيا به په رنګينو ګلو ، ښکلي وربـــلـــونـــه شـــي
بيا به غم وهلي مانبامونه ، ســـهـــــارونـــه شي
بيا به دسپين غره غاړې ته ستوري اميـــلونه شي
بيا به دکابل لمنه ډکـــــه پـــه ګلـــونـــه شي
بيا به د بابا پګړۍ جړاوه پـــــه لـــعـــلـــونو شي.

* * *

تا که پسرليه ، دګلونـــو ګـــيډۍ راوړلـــې
تا که د وږمې په وزر تـــانـــدې غـــوټې راوړلې
تا که درنا ناوې له تـــورو شپـــو راوايـــســـته
تا که دبارا ن د رنـو خـــاخـــکو ډولۍ راوړلې
تا که په خـــــاموشـــو مانبامونو کې شور وکړه
تا که زخمي زړونـــو تـــه د مـــينـې پټۍ راوړلې
ته به ابدي شې ، تـــه بـــه پاتې شې په زړونو کې
ته به د ژوند سا شې ، په ډاګونو ، په باغونو کې.

آلمان

۲۰/۲/۱۹۹۹

پردی

پيژني نه مي څـــوک يـــم پـــردي دلـتـــه

وايې نه سلام هم ته ســلام مـــي څـــوک

ګڼي نه ځان سره ځانه لـه مـــي څـــوک

وايې نه نـام او دننګ ل سيا راته څـوک

* * *

ويشلې خندا سره چا لـــه مـــي نـــه

نـــه مـــي لـــه چـا سره ژړا شـريـکه

شـان يـو مينه سره نورو له مـــي نـــه

شريکه سـا سره نورو لـه مـــي نـــه

* * *

نـه پا شـوي جلا ونې لـه لـــکـــه

خـيـــستي سرا پـــه سيلـــې زمـاني د

غه مر وهلي تـــوفان دشـــپـي لـکه

اخيستي وزر مي ســړوبـادونـــو

* * *

قيصه تښتيدلې ده يـــا لـــه لـــکه

شم نه تخنولی ذهـــن دچـــا نـــور

هيله ورکه کي شپـــو په دوخت لکه

شم نه تـــودولي زړونه دچا نـــور

* * *

سربـــاز شوي مات کي سوبه په لکه

ستـــړي جهـانه لـه ستـــړي، ځانه له

مـــين مـــه نـــاکـــا کي مينه په لکه

ستړي نه پيـــما له ستړي، هوډه لکه

* * *

چـــت او نه اسما تر سروو مي هلته

ګڼې مـــي اتخور خير يم، پردي دلته

خاوره خپله په ومـه اتـــل هـــلـــته

ګڼې مـــي تور يمه، ويارِه بي دلتـــه

* * *

راغلم بارنـه له سکروټو دســـرو

ته ر ښا ليو ړ د نو تـــومـــتـــو د

راوتښتېـــدم نه وريځو تـــورو له

ته ښار سپليـــو د او باد د راغـــلم

* * *

ترې مينې د ويـــنـه شرقي زمـــا

کي قـدم هر په ده کـرکـه دلته خو

ليـــوال خبري پـــستي يـــوي د زه

کي چـــم په زما دي تيږي خودلته

* * *

جنت په څـــه ستايې يې دوزخي ته

کوي څه چمـــن ته يې صحرايې، ته

يئ وړ بدلـــو ز دسو لرګی وچ تـــه

کوي؟ څـه ګلشن څه، باغ په يې ستا

* * *

بولي مي وحشي شم تي پا ليږې که

ټولوي ځان رانه شـم ورنژدي کـه

کوي کرکه غـارمه و ميـــنه کـه

نړوي دنيا وکوم، کـــه کـــر کـــه

* * *

راته دي غزي ا يې څانګي ټو بو د

که ډ پيغوره له يې خنـــدا دګـــل

څـــاخي زهر ئي نـــه ونـــو ورړو له

که ډ اوره سره له يې اروا ځوانـــه

* * *

يم تې بـــو غرو جـــګو د وطن د زه

کيږم شين نه کي چـــمن پردي دلته

ده ښخه ريښه مـــي کي خاته لمر په

کيږم شين نه کي ګلشن غربي دلته

* * *

پيژني نه مي څوک يم، پردي دلته

دي هلته پت زما او عـــزت زمـــا

ځايږم نه کي جـنت پـــردي دلته

دي هلته جـنت زمـــا دوزخ، زما

آلمان اکتوبر ۱۹۹۴

د جانان سترګو کې

بیا د ارمان غوټې رژیږي ، د جانان سترګو کې

ږلی د مني راوریږي، د جانان سترګو کې

د شپې سریزه ده تور تم په بربدلو ښکاري

د تور مانښام ستوري ځلیږي د جانان سترګو کې

لمر شهید شوی که افق زمور په وینو سور شو

که سره غاټول دي چې ټوکیږي د جانان سترګو کې

دجانان سترګو کې زما د ژوند بیړی ډوبه شوه

یاغي توفان دی چې بهیږي د جانان سترګو کې

شو ر د ځوانۍ دی که لذت د یوې نوې ګناه

که د تاک لور لوخه نخیږي د جانان سترګو کې

لکه چې بیا په محتسبه بلا واوښته مه

سپېره قسمت راته ګوا ښیږي د جانان سترګو کې

"کاوونه" بیا دې د زړګې جونګړې اور اخیستی

که د هوس لمبې بلیږي د جانان سترګو کې

آلمان

۱۶/۹/۱۹۹۶

اند ښښنه

انـــد يـــښښنـــه د يوې ونې يه سر نه ده

انـــد يـــښښنه، د يـــــوه بـــاغ د رژېدو ده

که يوه چيـــنـــه ړنده شي باک يې نشته

د تمام کلـــــي ويـــــالـــــه په وچېدو ده

د آشنا پل

د يار په مخ زلفې خورې خو نـــه دي

لار اختلې تورې شـــپـــې خو نـه دي

سر تيتوم د آشنـا پـــل ښـــکلـــوم

زاهده ستا تشې سجدې خونـــه دي

زه به نو ولې ترې پر هېز کـــومـــه؟

پيالې د ميو ودي، توبې خو نـــه دي

شيخه، ستنې دې که ناولې ګوتـــې

د ښکلو زلفې دي تسبې خو نـــه دي

زړګيه رونې به دې کړي دود به نه شي

د مخ شغلي يې دې، لمبې خو نه دي

راځه چې بلې کړو د ميوو ډيـــوي

ساقي !لا ورانې ميکدې خو نـه دي

کا وونه تمه د وفا ترې مـــه کـــړه

مغربي نجونې پښتنې خو نـــه دي

آلمان

سپتمبر / ۱۹۹۷

مړي ډيوې

ساقي دورغجنې دې وعدې شوې، ډيوې بلې نــه سوې

په مېکده کې ډيوې مړې شوې، ډيوې بــلې نــه شوې

خمونه تش، پيالې نسکورې، مېـــکدې ويـــجاړې

بيا د زاړه زاهد دورې شوې، ډيوې بلې نـــه شـــوې

سپو ږمۍ په وربځو کې ويده، ستورې دودونو کې پټ

د تورې شپې زلفې خورې شوې، ډيوې بلې نه شـــوې

تشه بيد يادە نه ليلا نه يې کېـږدۍ شـــتـــه پـــکې

مجنونه !خاورې دې اسرې شـــوې، ډيوې بلې نه شوې

يوه سپرغۍ وه ځلېـــدله د ايـــرو پـــه مـــنـځ کې

اوس هرې خواته سرې لمبې شوې، ډيوې بلې نه شوې

باغ کې چوپتيا ده، ونې زانګې د ماتم پـــه څـنـو

د ژمې شپې څومره اوږدې شـوې، ډيوې بلې نه شوې

چا يې په ياد چېرته نه شـمه او نـــه ګل کېښـــوده

د سرو غاښولو مرۍ پرې، ډيوې بـلې نـــه شـــوې

د جانان غمه د زړه کور راتـه روښـــانـــه که تـــه

بيا تور ما ښام، تورې تيارې شوې، ډيوې بلې نه شوې

آلمان ۲۳/۹/۱۹۹۶

له د بوالونو سره

هره شپبه له خړو خړو د بوالونو سره

د زړه خواله کومه

* * *

هر سبا يې چې مې له خوبه سترګې و غړېږي،

د خړو و سپنو ترڅې دروازه وينمه

او د کوټې د ديوالونو له داره زوړنده کو چنۍ کړکۍ

چې د هوا غلی تصوير يې له زاړه او سو ليدلي قابه ګوري راته،

او ديوالونه، بس يوازې د بوالونه، چې لا سونه يې ورکړي يو له بله سره

او ورو په ورو رانژدې کېږم ماته

کله چې ساه با سم،

لکه څپېړه مې په مخ لګېږي

خو زه لګيا يم هر ورځ له ديوالونو سره،

د زړه خواله کومه

* * *

چې د ما ښام لښکر ې راشي خپلې تورې جنډې ،

د ديوالونو په ير ور پوي،

د لمر ګزمه سترې ستو ما نه بيا له دنګو دنګو غرونو واوړي

زه د څلورو ديوالونو په ساړه تا بوت کې وغزيږم،

او د خوبونو ښاپيرۍ مې، په پټتو وزرونو،

ځان سره بوزي کومې ليرې نا آشنا سيمې ته،

چې نه کړکۍ، نه ديوالونه، نه دو سپنو تړلې دروازې وي پکې

نه څوک هوالکه تصوير په قاب کې بنده ساتي.

زه لکه ښاده او آزاده مرغۍ،

هر خوا والوزمه.

هر خوا وګرځمه

د هرې ونې په تنکيو پانو زړه و موښم

د هر ګلپوټې د غوټيو خوږې شونډې ښکل کړم.

او د هر چا غوږ کې د مينې ترانه ووايم.

کله چې سترې شم راوګرځمه،

او د خپل زړه د نيا ته ننوزم

بيا له ختيځه تر لوېديځه، له شماله تر سهيله پورې،

بيرته هماغه د يوالونهاو د وسپنو تړلې دروازې ووينم

او د کوټې د ديوالله داره زړوندې کوچنۍ کړکۍ

چې ګلوزره وږمې،

لکه د مړو تصويرونه، په زاړه او سو لبدلي قاب کې بندې ساتي

* * *

زه له دې خړو دېوالو سترې يم،

زه له ترلو وسپنېزو دروازو سترې يم،

زه لخ دې زورندو کړ کيو،

له زړو قابو نو

کر که لرم.

کابل پلچرخي زندان

۲۵/۸/۱۳۶۷

دوينو جام

يه آسمانه ، بيا دې څه لوبه آغز کړه ؟

بيا دې کومه غمپروره نغمه سازکړه

ټول وطن مې دعمرونو غمکده شو

زړه دې يخ که ، ورته خانده ، ورته نازکړه

* * *

د آسمان په لاس کې بيا دوينو جام دی

بيا يې کړی ، قربانۍ ته زمالام دی

ټولوطن راته دسرووينو درياب شو

ورځ مې شپه ده ، هر سهار راته مانبام دی.

* * *

دوحشت په اور کې سوزي ، ايرې کيږي

دوطن هستي مې ټوله نا بود ديږي

دښمنانو هسې اور راته کرلی

چې يو ريبم سل يې نور رازرغونيږي.

* * *

دوحشي ستم دوران دی په وطن کې

هر قاتل اوس قهرمان دی په وطن کې

دوطن لمنه ســـــره ده پـــه ســـرو ويـــنـــو

جـــور دسرو وينـــو بـــاران دی پـــه وطـــن کـــې

* * *

ســرې لمبې دي ، دبـابـا وطـــن مـــې ســـوزي

زړه مې سوزي ، ځـان مې سوزي تـــن مې ســـوزي

په ګلونـــو مـــې ســکـــروتـــې راوريـــږي

باغ مې سوزي ، ښايســـته چـــمن مـــې ســـوزي

* * *

هر يو « دوست » تـــه مې چې لاس ورکه دښمن شو

اهورا مې چې باله ، اوس اهـــريـــمـــن شـــو

هر يـــو راغې ، زه يې چور کړم ، زه يـــې بـــور کړم

هريو لاړه قربـانـــي ، زمـــا وطـــن شـــو .

* * *

وطـــن وران شو ، ملت چور شو ، ولس خوار شـــو

څوک په يو ه او څوک په بل نـــامـــه ازار شـــو

نه مـــو "کـــور" شو ، نه "کالي" شول ،نه "ډوډۍ" شوه

څه چې پـاتـې له نـــيکو وو ، تـــارو مـــار شـــو

* * *

سهار وينې رابهيږي ، ما ښام وينې

صراحي نه وينې څاڅي له جام وينې

څه دوينو زمانه شوه لويه خدايه

اغاز وينې راته ښکاري ، انجام وينې.

* * *

تا په کومه ګناه وژنې ، وطنداره ؟

قرباني يې بيا دکوم غا صب لپاره ؟

ستا له ورانو کنډوالو نه نور څه غواړي ؟

چې لاس نه اخلي دښمن له دې ازاره.

* * *

دوطن سپين سرې مور شوله سرتوره

داسمان دنا کردو بهير ته ګوره

اوس د وينو په درياب کې ده ولاړه

چې پرون وه په سرو ګلو کې سمسوره

* * *

چې د ګلو دانې وکرم ، اغزي شي

هر ګلرخ ته چې زړه ورکړم بازاري شي

هر "امام " پسې چې زه اقتدا وکړم

دمسجد لـــه کونجه پورته شي ، عاصـــي شـــي

* * *

چاپـــه يو او چا په بل نامه خـــــراب کـــــړي

چا ايـــــري کړي ، چا په سرو لمبو کـباب کـــــړي

نـــه پو هيږم څـــه ګـنـــاه لـــري وطـــــنـــه !

چـــــي داهسي يې د ســـرو ويـنـــو دريـاب کړي.

* * *

دمـــلـــت په اوږو سپور شـــي محـــتـــرم شـــي

هم کـــــعبه شي ، هم ساقي شي ، هـــم صـنم شي

هـم يـــي وژني هـــم پـــه قـــبـــر ورتـــه ژاړي

هـم قـــاتـــل شـــي ، هم قاضـي يې د ستـم شـــي.

* * *

لـــويـه خـدايـه تـــه دا تـــوره شپه رڼا کـــړي

ټول افغان بيرتـه په خپـــل وطـــن بســـيـــا کـړي

شـــيطـــاني تـــرورېمې وولي پـــه ســـتـــورو

ورنـــــه خلاصه دافـغـــان دزړه دنـــيـــا کـــړي.

آلمان

جون ۱۹۹۴

د «زه کابل یم» دکتاب لیکوال ، نباغلي م. ح. حسام ته :

یو لیک ، یو پیغام

یـــه دوطن دارما نـــونـــو یـــاره

یـــه دولس دفریـادونـــو یـــاره

زما دغـــم اودقـــلـــم شـــریـــکه

یـــه دکابل دماتمـــونـــو یـــاره

* * *

تامـــي دزړه په سوزیدلي دښتـــه

بیا دیادونو اغـــزي وتـــو کـــول

تا مي دذهن رژیدلي بـــاغ کـــي

بیا دغـــمـــونـــو ګلان وغـــورول

* * *

تامي د سترګو د ا ســـمـــان لمـــني

بیا دماتم په وریځـــو ولـــړلـــي

تامي بي وسه بي فریاده انبـــکي

بیا دارمان په مزار وشیـــنـــدلـــي

* * *

تا مې دذهن وزر ماتی مرغـــــه

بیا دکابل دکنډوالو میلـمــه که

تامې دژوند دامیدونو قـــاصـــد

بیا دوطن دهدیرو مـــیـلمـــه که.

* * *

لاړم دخیال په وزرو والوتـمـــه

په سوزیدلي کابل وګرځـیـــدم

دورکو هیلو دلـتون په تـــمـــه

په نړیدلي کابل وګـــرځـیـــدم.

* * *

پیدا مې نه که هغه ښکلې کابـــل

دافغانانو نـــازولـــی کابـــــل

زما کابل ، زما منلې کـــابـــل

ښکلې کابل ، دګلو څلې کابـــل

* * *

دښـــایسته دزړه پـه ســـرمـــــې

دسپیرو خاورو ډیرې لـیـــدلـــې

په هر قدم او هره لويشته کې مـــې

د سوو هيلو غونډې ولـيدلـــــې.

* * *

هغه دمينې په شور مسته سيـمه

لکه خاموشه هديره ښکاريـــرې

داکاسي او دنسترنو باغچـــــه

له ګلو تشه ده ، سپيره ښکاريرې

* * *

چايـــې هوس د سوزيدلو کـاوه

چا يـــې ارمان دنـــړيدلو درلود

چا يې په زړه يو زر زخمونه غوښتل(۱)

چا يـې اميد د پر ز بدلو درلـود .

* * *

چا يې په خيرې ګريوان اور پورې که

چايې لمن چايې لونګۍ پټه کـــــړه

چايې تاريخ ترښه ځولۍ کـــې يوړ

چايې دهيلو ناوکـــۍ پـــتـــه کـــړه

* * *

چاپې ویاړونو ته کتلای نه شـــــول

چاته یې جـــګ سر دمنـــلونـــه وه

څوک یې ړانـــده و عـــظمتونو پسې

چا ته یې برم دلـــــیـــدلو نـــــه وه.

* * *

چاپې پګړۍ له سره کـــوز کـــړلـــه

چا پرې لمبې دانتقام بـلې کـــــړې

چا یې ګریوان ریښې ریښې که ورته

چاورته شمې دانجام بـلې کـــــړې

* * *

نـــه یې سهار دی دشـغلو ملګـری

نـه ما ښام، رنګین رنګین ښکاریږي

نه یې سپوږمۍ دلمر په مینـه مسته

نه خویې ستوري ګلورین ښکاریږي.

* * *

نه یې باغونه په ګلابـــو سینګار

نه دښتونه په غاټولـــو ښـــکلي

نه یې مانیو کې پرتـــم پـــاتـې دی

نه جونګړې چا په ننګ پـــالـلي

* * *

په وينو سره ښـکاري لمـــنه دښـار

پر هر پر هـر يې مړه نـنګـونه ژاړي

له زخـمي زړه نه يې څخيږي وينـې

ويرژلې ســايې تاريخـونـــه ژاړي

* * *

د شنه اسمان مخ يې په وريځو ککړ

شپه يې بهيږي په کو څو کو څو کې

هر لور اوږده دې د ستم لا ســـونه

مرګ يې نخښې په کو څه کو څه کې

* * *

په هر څپک خاوره يې وينې پر تې

پــه هــر قـــدم يــې رژېدلي ګلان

په هر لښتـه يې ز مو للي غو تې

پـه هــر ه څانګه سو زېدلي ګلان

* * *

ا ســما يې، دغه زخمي پـهلوان

نور درزمونـــو افسانې نه وايې

دغه د تيـــرو پـــر تـمونـو راوي

د سترو سـو بـو ترانـــې نه وايې

* * *

نور يې« مهراب» او« رودابه» هېره ده

نور يې د« زال» زاړه رازونـــه نـــشتـــه

اوس يې په ذهن کې« شغاد» پاتـې دی

نور يې« رستم»،« رستم» يادونه نشته

* * *

اوس پـــکې نوم د« کا که» ګانـــو نشته

اوس پـــکې مړه دي د مـــرۍ رسمـــونه

اوس پـــکې ملتې دي سپيڅلې تـــورې

اوی پـــکې ورک دي د دستار ســرونـــه

* * *

نور يې «اکبر»، «اکبر» غيرت ويده دی (۲)

نور يـــې « امان، امان » ننګونه نشته (۳)

نور يې مشکي، مشکي شملې ټيټې دي (۴)

نور يې طـــرزي، طـــرزي فکرونه نشته (۵)

* * *

حسا مه ، تا خو د کابل په لو تو

د اوښکو ډيرې ډيوې بلې کړې

تا د بې ګوره شهيدانو په ياد

د خلکو هيرې شمې بلې کړې

* * *

تا د قلم په هنرمنده ژبه

وطن، وطن سندرې وويلې

تا د سرو وينو د درياب په غاړه

د مرغلرو مړو وپيښلې

* * *

تا د قدرت د ليونو له مخه

ددين سپيڅلی نقاب و غورزاوه

تا د منکرو زاهدانو جرم

په خپلو چيغو چيغو ولړزاوه

* * *

ته دريا خرقه پوشانو پيې

د ننګ پېلوئې په لاس و ګرځيدې

ته له دروغـــجـــنـــو ا تـــلانـــو ســـره

د خـــپـــل قـــلـــم پـــه تـــوره و جـنګـېدې

* * *

دا هـــورا پـــه نـــوم راغـــلي يـــاران

ګـــورہ زامـــن د اهـريـــمـــن وخـــتـــل

د پرښتو جـــامـــه کـې پټ شيـطـــانـــان

و حشي ســـر تـبـري د د ښـــمـــن وخـــتـــل

* * *

د شـــپـــې بـــړ بـــخـــي د رنـا د ښـمنان

دزرو غـــلـــه دي هـــنـــر څـــه پـــېـــژ نـي

دالـه کـتـــاب او لـــه قـــلـــمه پـــــر دي

د علـــم او پـــوهـــې سنـــګر څـــه پـېـژني

* * *

له غـــلـــو نـــه تـــمـــه د انـصـاف مـه کوه

له قصابانـــو قـــضـــاوت مـــه غـــواړه

دبې عزتو ، عـــزت نـــه خـــو ښـــېـــرې

له بې غيرتـــو نـــه غيرت مـــه غـــواړه

دا د سرو وينو د ثروت سوداګر

د محبت په ژبه ، نه پوهيږي

دا د مرګونو د ښامار قاصدان

د ژوندانه په معنا څه پوهيږي

* * *

دا د پرون د معرکې اتلان

د خپلو خلکو قاتلان وختل

داد وطن دازادۍ جنګيالي

خپله د نور و غلامان و ختل

* * *

دا د بربنډو پرښتو مينان

د دنيا يي جنت خوبونه ويني

داله هيندارو نه بېزاره شيخان

تورو کو دړو کې مخونه وينې

* * *

راځه چې لوڅې کړو ناولې څېرې

راځه رسوا کړو درواغجن اتلان

دا د ګناه او د ثواب مالکان

دا د جـــنـــت او د دوزخ واکـــــــداران

* * *

راځه په چیغـــو کـــې لـــمبـــې وکـــرو

راځه تـــــاوده کـــړو یـــخ وهـــلـــي زړونه

راځه د هـــیـــــلو غـــو ټـــی و نـــازوو

راځه چـــې ایل کړو خـــزانـــي بـــادونه

* * *

راځه ورځـــمـــه شـــو بـــاغ پـــه باغ و ګرځو

په سپبرو لښتو کـــې غـــونـــچـــې وکـــرو

راځه د یـــوال د ســـکـــوت و نـــړوو

په وچو شونـــډو تـــرانـــې وکـــرو

* * *

راځه د تـــور مـــانښـــام پـــه تـــوره ډډه

ښکلی تـــصـــویـــر د سبـــاوون کـــارډو

راځه د مـــرګ د هـــیـــولا پـــه تـــنـــدي

ځلانـــده لـــیـــکه د ژونـــدون و کارډو

* * *

باور مـــې نـــه شـــي چـــې د ورځـو مور به

د شنه اسمان په مخ خپره پاتې شي

باور مې نه شي چې دا تورشپه به

د لمر په کلي کې ديره پاتې شي

* * *

دا د سر کښو تو فانونو وطن

سر د ستم مخې ته نه ټيټوي

دا د رزمونو په بټيو کې پوخ

د بې ننګيو زغيرو نه قبلوي

* * *

بيا به را پا خيږي دا ستړی ولس

بيا به راويښ شي دا ويده ننګونه

بيا به پخلا شي مرور اشنا يان

بيا به تازه شي پخوانې هوډونه

* * *

بيا به نو تورې تالا نګرې څېرې

په تکو سپينو جامو نه پټېږي

بيا به لو ټمارې ستمګرې ډلې

د عدالت په ګدۍ نه برېږي

بیا بـــــه د لـــمـــر ګلـــونـــه و غوړیږي

بیا بـــه ســـحـــر پـــه ځـلـیـدو لور اشي

شپـــه بـــه د شپـــې کلـي ته کډه وکړي

بیـــا بـــه سپـــبـــدې پـــه بربډ لوراشي

* * *

بـــیـــا بـــه مـــو تـــاج شي د غنمو وږی

بیـــا بـــه سپـــرلـــی شي د بابا په وطن

بیـــا بـــــه جـا ړبـړو یـــو له بله ځني

بـــیـــا بـــه را پلنه شي رنا پـــــه وطـــن

* * *

بـــیـــا بـــه کابـــل شي د ننګو نو کابل

د تـــلـــژونـــدیو پـــر تـــمـــونـــو کابل

د ټـــول افـــغـــان د امـــیـــدونو کابل

د بـــــریـــالـــیـــو ارمـــا نـونو کابل

۱ جنرال اختر عبدالرحمان له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۷ پورې د پاکسنان د استخبارتي سازمان ISI رئسو ، چې لوی ارمان یې د کابل سوزول او ویجاړول و او د ژړګو نو زخمونو ..... تر نامه لاندې د جګړې نقشه یې په سر کې درلو ده.

۲. وزیر محمد اکبر خان

۳. اعلیخضرت امان الله خان

۴. ملا مشک عالم

۵.محمود طرزي

آلمان / می ۲۰۰۰

تللې شيبې

تا ته يا ديرې هغه تللې شيبې ؟

هغه د ګلو غوندې،

ښکلې، رنګينې، نازولې شيبې،

چې دې د سترګو د اسمان په تورو تورو شپوکې

لکه د مينې د رازونو ستوری و ځلېدم،

او هر شپه دې له ما ښامه تر سهاره پورې

د خپلو سترګو د کتو په ژبه،

ماته د « مينې »

د « باور »

او د « ارمان »

خوږې قصې کولې.

۲

تاته يادېرې هغه تير ، هغه تر خه هغه اغزن و ختونه؟

هغه په تورو وريځو بار هغه دود جن و ختونه،

چې دې د سترګو د اسمان په تکو تورو شپوکې،

« مينه » کو چې،

« باور » پردی شو ،

د ارمان شغلې خامو شې شو لې،

زه دې د سترګو له اسمانه، د باران د یوه څاڅکي غوندې و څڅېدم

المان/ جنوري ۱۹۹۳

د باد په کنډوالو کې

کاوون توفاني

کابل ته

درنـــه لـــوګـــی شم، ګرانه کابـــله

زمـــوږ د نـــجـــونـــو، د پېکې ګلـــه

وجود مـــې سوزي، زړه مې رپـــېـــږي

چـــې درتـــه ســـرکړم د غـــم بدلـــه

* * *

ماتـــم څـــخـــږي، ستا له څیرې نه

خندا دې څـه شـــوه، سرور دې څه شو

مستي دې څه شوه، هستي دې څه شوه

غېرت دې چېرتـــــه، غرور دې څه شو

مانبام مانبام یې، سهـــار دې نه شته

په ژمي پروت یې، بهـــار دې نه شته

لمر د پرېـــوتی، سپـــوږمۍ دې تللې

د رڼو ســـتورو، سینـــګار دې نه شته

* * *

د ګلـــو ښـــاره، د ښـــــکلو ښاره

ښـــکلي دې لاړل، ګلان دې وســـول

فضـــا دې ډکـــه لـــــه شنو دودونو

ونـــي دې وســـوې، مرغان دی وسول

* * *

په سپينه ږيره دي اوښکی څـاڅـــــي

له زخمي زړه دې وينې بـهـــــــږی

په شنه لمن دې غـــــاټـــــول د وينو

رازرغونـــــبـــږي او راغـــورځـــږي

* * *

په سر دروې، سکـــــروټـــــې ووري

په لاله زار دې، خـــزان پـــــربـــوتـــی

ونـــې لـــغـــړې، ګلـــونـــه مـړاوي

پـــــه شنـــــو باغو دې توفان پربوتلی.

* * *

د لمر پـــه بـــام دې، اخـــبـر د ورېځو

شينکـــــي اســـمان دي پټ په دودونو

غـبـــرې دې ډکـــــه له شـــهـيـد انـــــو

خـــلـــک دې ستـــــړي له ماتمونو

* * *

خندا دې چور کړه، وحشي بـــادونـــه

غرور دې مات که، بې غیـــرتـــلنو

هـــستـــي دې يـــوړه دا ړه ما رانو

غوتې دې لوټ کړې تورو کارغـانو

* * *

زه درنـــه لري ، پـردي وطـــن کې

په يـــاد دې سوزم ، په يـاد دې ژاړم

هر شـــيـــبـــه دې ، له غمه مرمـــه

په غشق دې پـــايم ، په نوم د ويارم

* * *

د ګلـــو ښـــاره، د ښکلو ښـــــاره

زخمي کابله، ورانـــــه کابـــــلـــه

سوی کـــــــابـــله، ويـجاړ کابله

ښکلـــــی کابـــلـــه، ګرانه کابله

المان

۱۹۹۳ / ۵ / ۲۰

د افغانستان د نومیالي لیکوال او څیړونکي، اورانباد محمد صدیق روهي په ویر کي

د روه ملیار.

هغه شنه اسمان ځلانده ستوری

هغه په پټه خوله ویانده ستوری

هغه د ورکو کاروانو نو هادي

هغه د نور د سین څپانده ستوری

* * *

هغه په سپینو مرغلرو مین

هغه د مینې د دریاب مانو

هغه د حسن د تصویر انځور کړه

هغه غږ او د کتاب مانو

* * *

هغه د روه د ګلزارونو ملیار

هغه د حسن د باغونو ملیار

هغه د دښتو د ګلونو ملیار

هغه د پانو د رنګونو ملیار

* * *

ستوری و ، ستوری شو له ستورو سره

لاړو د تللیو په قطـــار کښېناست

ښکلا به چېرته خپل تصویر و ګوري؟

په اېینه باندې غبـــار کښېـــناست

* * *

د شپو ځنګل یې په سکروټو وویشت

د یخ په دښته کي یـــې اور وکـــره

زړونه یې مست کـــړل د رڼا په میوو

په ساړه بزم کـــې یـــې شـــور وکره

* * *

ځان یې د شمې غوندی وســـوزاوه

تیاره محفل ته یې رڼـــا ورکـــړه

خاموشو تورو ته یـــې غـــږ وښښه

مړو قلمونه تـــه یـــې ســـا ورکړه

* * *

د وچکالـــی په دغه شنډ فصل کې

ګلونـــه پاتـــې شـــــول مـلیار لاړو

څوک به پالنـــه د غوټیو وکـــــړي؟

وږمه پردیسه شـــوه، بـــهار لاړو.

* * *

څوک به ساقي شي په دې توره شپه کې

څوک به جامـونـــه د رڼـــا ووېشي

څوک بـه د ستـــور د میخانې وپالې

څوک بـــه مستانو ته صهبا ووېشي؟

* * *

څوک بـــه د خیال په هنر مندو ګوتو

له تورو تیـــرو نه تصویر جوړ کړي

څوک به له زېـــړو رژېـدلـــو پانـو

د رنګینه ګلو بهـــیـــر جـــوړ کـړي؟

* * *

ژاړي د روه د ســـردرو ښـــا پـــېـری

تشو پیکیو تـــه، ګلـــونه غـــواړي

له رژېدلي، بـــی ملیاره بـــاغـــه

د بلبلانـــو اوازونـــه ، غـــواړي

* * *

هغه د مـیـنـې د ښـــکلا انځور ګر

لاړو د تللیو په قطار کښـــېـنـاســـت

ښکلا به چېرته خبل تصوير وګـــوري؟

په اينه باندې غبار کـــښيـــــناســـت

المان

۱۹۹۶ جون

د مانبامونو په دار

وس راباندې وکوه، ګيله مې په خـــــوله نه راځي

دود مې که اسمانه خو شکوه مې په خوله نه راځي

مينې مې د ژبې په سر نـــوم د يـــار کـــرلی دی

څه وکړم زاهده چې توبه مې په خوله نـــه راځي

سر به کله شمـــه د لـمـبـو پـــه بـيـه ورکړمه

پت به د عشق و ساتم، پلمه مې په خوله نه راځي

هسی يې د سپينې خولې په تمه تومتـــي شومه

مست يې په کتويمه، بوسه مې په خوله نه راځي

ما يې د تسبو په لړ کې کفر د ابلـــيس ولـــيـد

مورې سجدو نه يم، زه د سر د ټيټـبـدونه يم

وخته ! د تسليم توره قصه مې په خوله نه راځي

هر توری زخمي دی، هر غزل د وينـــو رنګ لري

هيري مې سندری شوي، ټپه مې په خوله نه راځي

شيخه درواغجنه د جنـــت د پـــرښتـــو غـــله

تا چې دلته و کول، هغه مـــې په خوله نه راځي

ته خو به مې غږ د مانبامونو پـــه دار پورته کړې

زه به چيغه چيغه شم، روژه مې په خوله نه راځي

کابل.

د غبرګولي ۱۸ ۱۳۷۱

د خزان تصوير

بيـــا خـــزان پـــه ګلو راغی

بيا ماتم نيـــسي بـــاغونه

بيا چمن په ويـــر اختـــه دی

بيا رژېږي ســـره ګلونـــه

* * *

بيـــا د وريځو اوښان ګرځي

د آســـمان په کرونـــده کي

بـــيا د بـــاد اســـونه ځغلي

د افق په شنه باغـچـــه کي.

* * *

د خـزان نقاش تـــه ګوريُ

رســـمـــوي تـــصوير د مني

د چمن په ښکلي پـــا ڼـــه

خپروي تصـــويـــر ږ مـــني.

* * *

ځنګله خـړه چـــوپـتيا کې

د سفر سرود غـــــږيـــږي

د غمجن مانبام پـه شونډه

د مـــاتـــم غـــزل چلېږي.

* * *

مـــرغـــۍ الـوزي له ونو

د تـــودو سيـــمو په لوري

تـــرانـــې د مينې وايـي

خپروي د ژونـــدون توري

* * *

طبيعت څومره رنګين دی

دنيا څومره ښايستـــه ده

ژوندون رازدی د رازونـــو

د فـصـلـــو نو سلسله ده

* * *

کلـــه پـــانـــې رژېدلي

کله موج وي د ګـلـونـــو

کله ټوله دنـــيـــا خـــړه

کله شور وي د رنـــګونـو.

آلمان ۹ / ۱۰ ۱۹۹۵

زرغونې هيلې

زما وطنــه يـــه زما د شنو يــادونــو باغه

زما د سترو ارمـــانـونــو د دمـــي مـنـزله

زما جنـت، زمـــا دوزخ، زما ثـواب او ګناه

زما سپـرلی، زما خـــزان ، زما د مسنې ګله

* * *

و مې ليدل چې په غمجن زړګـــي دي اور ولګېد

ومي ليدل چې له سيني نه دي لمبې پورته شوي

ومي ليدل چې د سکروټو په توفان لاهو شــوي

ومی ليدل چې له لمنې دې ايرې پورته شـــوی

* * *

ومي ليدل چې د اسمــان لمنـــه ډکه شـــوله

ستا د سرو ګلو پـــــه رنـګيـــنو رژېدلو پانو

ومې ليدل چې د افق شونډې ګلګونـــې شولې

ستا د غوټيو په نيمزالو نښتېځلو پـــانـــو

* * *

ومې ليدل چې خوشحـاليو درنه کـــډه وکړه

ومی لیدل چی درکـــې وچ شول د خندا ګلونه

ومی لیدل چـــی د خـــزان بـــادونو ورژول

هم د شینکیو سر درو هـــم د بـیـــدیا ګلونه

* * *

ومی لیدل چي په باغونو دې لمبې پورې شوی

ومی لیدل په چمنونو دې اورونه کـړ شـــول

ومې لیدل چي په بلبلو دې مـــاتـــــم ولګید

ومی لیدل چي ګلبوټو دې لـــوونـــه ګډ شول

* * *

ومی لیدلچې توره شپـــــه دربـاندې بره شـ-وله

ومی لیدل چې ورېځو هیر که سپین سبا درځـــني

ومی لیدل چي سپورمۍ پریوته او ستوري توي شول

ومي لیدل چـــې مـــــروره شـــــوه رڼـــا درځني

* * *

خو یه وطنه یه زمـــا د شنو یـــادونـــو بـــاغه

تل به سپلۍ، تل به د ژمي تارا کـــــونه، نـــه وي

ورېځې به ورکې شـــي، د لـمـر لونې به ونښېږي

تل به دا توره تورمۍ، دا مانښـــامـــونه، نه وي

* * *

شپه لا که هر څومره اوږده هم شي تلپاتـې نـه ده

وريځې که هر څو مره تيارې وي جاودانې نـه وي

د ساړه ژمي يخ وهـلې او سـړې سبـلی بـه

تل د باغونو پـه رګـونـو کې روانې نه وي

* * *

د پسرلي نـاوي بـه وسپـړي د زلفو ولونه

په شـنه لمنـه بـه دې وتومبي غمي د ګلو

په سرو غـاټولو په رنګينې شي شګنې تالې

په چمنونو کې بـه جـوړه شي سيالي د ګلو

* * *

باران به پاڅوي له خوبه د ډاګـونـو بـو ټـي

وږمـه به بيا سوو ، سپېرو لښتو ته سا ورکړي

شبنم بـه پر ېمينځي په مينه د غوتيو سبرګې

لمر بـه د ګلـو انـنـګيـو ته ځلا ورکړي

* * *

په خړو دښتو به روان شي د رنګـونو بـهـير

په سپېرو بوټو به رابره شـي د ګل سنـدره

په سرو غوټيو به جړاوي شـــــی د ونو غاړې

په باغ او راغ به راخپره شي د بلبـــل سندره

* * *

په تورو وربځو کې به تم شي د سکروټو باران

د شپې په څنو کې به وچ شی د لمبـــو ګلونه

د تروړمې سينه به ځيري شی د لمر پـــه توره

د شفق باغ کې به سمسور شی د سبېدو ګلونه

* * *

بيا به ګلان په وربل کېږدي کليوالې نجونې

بيا به باغونو ته ستنې شي مسافرې مرغۍ

بيا به په غرونو کې غرځې دمشکو ساه وکړي

بيا به په ځالو راخورې شې مهاجرې مرغۍ

* * *

بيا به د ګلو پـــــه سين و لامبې شډلې دښتې

بيا به خړوب شی په شنبليو دا سپېره ډاګونه

بيا به د باغ په زړه کـــې وټوکي زرغونې هيلې

بيا به د تيرو ذهـــــن ونـــازوی سره يادونه

آلمان دسمبر ۱۹۹۶

لاري

زوی مې زما په ژبه نه پوهېږي،

زه مې له پلار سره، یوه مسجد کې لمونځ نه کوم،

پلار مې په خپله لاره ځي او زه په خپله لاره،

زوی مې زمونږ لاري،

منسوخې،

کږې لاري بولي.

او د خپل ځان لپاره بله نوې لار لټوي.

زمونږ د ژوند دود او د ستور داسې دی،

مونږه د لارو د بدلون په هنر نښه پوهېږو

خو د ځانونو بد لولو سره رونږدي نه یو،

ځکه خو ټول عمر

په لاره کې یو،

منزل ته،

نه ریږو.

آلمان د سمبر ۱۹۹۴

یه غمه کور دې ودان

یه غمه، کور دې ودان،

چې دې د ژوند پدې سړه دښته کې

پدې اغزنه، ناڅرګنده لاره،

یوازې،

پرې نښودم.

یه غمه،

کور دې،

ودان.

زه لکه ستړی مسافر ، ژوندون مې بار په اوږو ،

پدې اغزنه،

ناڅرګنده،

لاره،

په شپو او ورځو ،

ځم،

روان یمه،

مزلونه وهم.

ته،

لکه خوږ او وفادار،

ملګری،

تل راسره یې او قدم په قدم،

زما د ستړي ژوند،

شېبې شماري.

او د ژوندون پدې اغزنه، ناڅرګنده لاره،

ما سره د رومې او ستل راکوې.

غمه،

یه غمه،

وفاداره

غمه.

زما د ستړي ژوندون،

یاره،

غمه.

آلمان ۳/۱۱/۱۹۹۵

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

تشې پينې

زړه نـــه مـــې څـــاڅې، درپسې وينې

د ګلـــو لـــښتـــې، يـــه نـــازنينې

ستـــا پـــه ستـــم مـــې، قلم قلم زړه

ستـــا په تومت مې، جامې رنګينې

نـــه مـــې هېرېږې، نه در رسيږم

لـــه ليـــري مـــرمـــه، نژدې سوزېږم

خـــبـــره نـــه شـــوې زمـــا لـــه سوزه

خبـــره نـــه شـــويـــزمـــا له مينې.

سهار رانـــغـــې، بـــيـــا مـــانبامونه

بـــيـــا د غـــلچـــکو شپو ،يرغلونه

ځلانـــده لـــمـــره، څپانـــده لمره !

لږ راخـــورې کـــه، زلفې زريـــنـــې

مېـــکدې ورانـــې، رنـــدان خاموشه

نه ځوک عاقل شته، نه څوک مدهـوشه

د تاک رګـونه، پاتـې لـــه جـــوشه

تـــشـــې پـــرتـــې دي د ميـــو پـينې

آلمان د سمبر ۱۹۹۷

د الينا سندره

زمـــا لغـــمـــانـــه، ښايسته لغـمـانـه

بـــيـــا دې يـــادونـــه په زړه ووري راتـه

بيا مې په خوب، بيا مې په خيال کې ته يې

بـــيـــا دی غـــمـــونـه پـه زړه ووری راته

* * *

لکـــه لـــه مـــور جـلا شـــوی ماشوم

هـــره شبـبـــه درپـــســـې وژړېـــدم

لکـــه د تـــورو مـــا ښـــامـونو شمه

درپـــســـې ويـــلې شـــومـــه وخـځېدم

* * *

نـــور دې پـــه شپولو کې شپانه نه وينم

نـــور دې تـــالـــو کـــې رمې نه څري

نـــور دې نـــاوونـــه له ايوانو ډک دي

نـــور دې پـــه غرونو کې غرڅې نه څري

* * *

بـــيـــا دې حـجـــرې ســړي، پـرتې دي

بـــيـــا دې دبـــرې دي لـه زلمو نه تشې

بیـــا دې د ښکلـــو ګـــوډرونو غاړې

لـــه پـــېغلـــو تشې، له منګو نه تشې.

* * *

بیـــا د ســکـــــروټـــو په سین ننوتې

بـــیـــا دي سینـــه پـه لمبو وسوزېده

بیـــا دې ګـــرېـوان له غمه څیرې څېرې

بیـــا دې پـــګړۍ لـــه سره وغورزېده

* * *

د "الـــیـــنـګار" لـــه ذهـنـه و وتله

د "الـــیـــنـــا" د لـــوی پـــر تـــم سندره

د "الیـــشـــــنګ" پـــه شونډو غورېده

د غـــم سنـــــدره، د ماتـــم سنـــــدره

* * *

بیا دې "کلـمان" په تورو وربځو کې پـــټ

بیا دې "سالاو" په سېلاوونو کـــــې ډوب

بیا دې "سنګر" په سرو سکروټـو ســتـي

بیا دې "منـــګو" په شنو دودونو کې ډوب

* * *

بیا د "نـــرنـــګ" نـــښتـــرو اور اخیستی

بیا د "وایـــــګل" پـــه ګلـــو اور ووري

بیا د "کـــرنـــج" مـــمـــانې وینې ژاړي

بـــیـــا د "ســـایګل" په ښکلو اور ووري

* * *

بیا د غـــاټـــولو غـــارې ټیټې ښکاري

بیا د نرګس له سترګو نـــم څـــخـــیږي

بیا د ګلاب په تـــن کې ویـــنـــه وچـــه

بیا له رامبـــیـــلو نـــه مـــا تـــم څڅږي

* * *

بـــیـــا دې دانې، دانـــې د اوښکو غمي

له سترګو څاڅـــي، امـــیـــدونـــه کري

د اور اوویـــنو په تـــبـــجنـــه دښـــتـــه

د سبا نـــي بـــهـــــار ګلـــونـــه کري.

* * *

زما لغمـــانه، ښایسته لـــغـــمـــانـــه

ستا حماســـــه مـــې د وطـــن سنـــدره

ستا د ننګـــونـــو د یـــادونـــو قـــصـــه

زمـــا د ســـاه، زمـــا د تـــن ســـنـــدره.

کابل چنګاس ۱۳۶۴

د بلبل ساندي

که وږمه يـــې راروانـــه د کاکل شـــي

د دي وچې دښتې ترخي به ګل، ګل شي

ماته څانګه داغزو شي چې لاس ورورږم

د رقيب په لاس کې لښته د سنـبل شي

د زاهـد زړه بـــــه له خپله ځانه تورشي

که يـــې ستـــرګې آيينـې ته مقابل شي

د زړه پانې، پانې ګل بـه تر بنه ځار کړم

که مې تللی آشـــنا بيا راسره خپل شي

د آشنا په اصالت بـــاندې پوه نه شوم

کله جوړ ترينه پښتون کـــلـه مغل شي

چـې غـو تې په خپله لنډه خندا خاندي

تـرينه جـوړې سوې ساندې د بلبل شي

زنـګوم بـه يـې د سترګو په زانګو کې

کـــه نصيب راته خوبونه د کابـل شي.

آلمان

۲۰/۸/۱۹۹۹

زولنې

ساقي په جام کې راوړلې، اورينې زولنې
د عقل لېونيو ته، د مينې زولنې
ساده زړه ته مې ګوره په هر چا کوي باور
بنګړې ورته ښکارېږي پو لادينې زولنې
خاونده تشې مه کړې دا کوڅې له ليونو
ما تېرې چې يې پښو کې پر تمينې زولنې
دروايې خله زاهده وي دې تا ته مبارک
دا تور نصيحتونو او داسپينې زولنې
پرون مې ښکلول د آشنا لېچو کې بنګړې
بيګا مې خوب کې وليدې رنګينې زولنې
ما ښام مې باغ کې واورېده سندره د اغزو
سهار د ګل په پښو کې وې زرينې زولنې.

کابل

تله ۱۳۶۷

د رڼا جام

تا ته به یاد وي که نه،

هغه شیبه چې ما په مینه مینه،

تا ته د زړه جونګړه پرانیستله،

ته مې د هیلو نښتېځلي باغ ته و بللې،

ما ویل ته به راشې

او پسرلی به راشي

او توتکی به په وزرونو کې ګلونه راوړي،

او دغو ټیو ښایسته ډمې به،

د وچو لښتو د یادونو په بام و نڅېږي

* * *

ما ویل زه به ستا د سترګو له روښانه چینو ،

د رڼا جام وڅښم

او د ژوند ون هره شېبه به د رڼا په سین کې ولمبوم،

او تر وږمی به مې د زړه له سزېدلط ئاره وباسمه

حو مره ساده و مه زه.

* * *

زه د وړمې تړی وم،

ما د باران د رتلو لار څار له،

ما په شنو لښتو کې د سرو ګلو خوبونه لیدل.

ما ویل ته که راشې

نو پسرلی به راشي،

زه به د شنې وړمې به شنو وزرو والوزمه،

په غرور غونو کې به و ګرځمه،

د وچو بوټو په رګونو کې به شور ویښ کړم

د سپېرو څانګو په غوړو کې به ایت د ژوندانه ووایم

څومره بیځا یه هیله.

* * *

تا ته به یاد وي که نه،

خو زما هیره نه ده،

هغه شیبه چې ته زما د زړه جونګړې ته راننوتې،

بیا مې د هیلو باغ کې و ګرځیدې

د لمبو ختې دی به غاړه پرتې،

او په پښو دې د سکروټو سرې پنې ښکار ېدې.

ستا له راتګه سره،

زما د هیلو باغ د اور په سمندر پرېوته.

نه مې وړمه ولیده

نه سترګو د رڼا جامونه،

نه ټو تکیو په وزرونو کې ګلونه راوړل

او نه باران په وچو د ښتو د الماسو دانې ولو نلې.

* * *

اوس مې د زړه جونګړه،

د تروړمیو په څپو کې ډوبه

اوس مې د هیلو ننښتېځلي باغ کې،

د سرو غو ټیو په ځای

د سرو سکروټو، سره ګلونه خاندي.

زه د رڼا د جام په یاد په خپلو ټولو ساده ګیو ژاړم،

او په خپل زړه کې مې د هیلو د مزار په څلي، او ښکي شیندم.

آلمان

۲۰/۷/۲۰۰۰

دهيلو په مزار

که زه جامونه تشومه ، شيخه ستا يې پـــې څـــه

زړه په سکروټو داغومه ، شيخه ستا يې پـــې څـه

که له ساقي نه مې د عقل زولـنـــې غـــوارمـــه

که زنځيرومه شرنګومه ، شيخه ستا يې پـــې څـه

که دتقوا له ښاره ووتمه زيـــان يـــې څـــه دی

که خرابات جاروکومه ، شيخه ستا يـــې پـې څـــه

ته د سجدو کچکول کې غواړې تر ې وصال د حـورو

زه يې کچکول نسکورومه ، شيخه ستا يې پـې څـه

زه له ما ښامه تر سهـــاره پـــه مـــزار دهـيـــلو

داوښکو شمې بلومه ،شيخه ستا يـــې پـې څـــه

چې د آشنا کوڅې ته ځمه هـــر بـــيـــګاه او سبـا

هلته مې سترګې خوږومه، شيخه ستا يې پـې څـه

تورو خاموشو ماښامونو کې غوغـا کـــرمـــه

ويدې نشې راپاروم ه ، شيخه ستا يـــې پـــې څـه

کابل

۱۳۷۰ / ۶ /۲۸

د کاروان په هیله

ستا هغه مستي خبز لوڅي سترګي ،

چې يې په سلو ژبو ،

ماته سبق د محبت راکاوه .

او د ساړه ژمي په شپو کې به يې

زما د زړه کوډله ،

مدام روښانه او توده ساتله .

اوس د سړې سيلې په توره شپه کې

ستړې ،

خاموشي ،

اوسړې ،

بنکاريږي .

زه ستا د ستزګو د خبرو تږی

د شپې په توره ، نا څرګنده دښته ،

لکه ستومانه مسافر چې د يو څاڅکي اوبو په تمه ،

د کوم بې نومه ، ناڅرګنده ، کاروان لاره څاري

د شپې په توره او شګلنه دښته ،

د تا د سترګو د خبرو د کاروان په هیله ،

شپې

تيروم.

آلمان ۱۹۹۹/۴/۲۶

هیر

کلونه وشول چـــې دې نـــه ویـــنمـــه

غزل د سترګو دې لـو ستـلاې نـــه شـــم

نور مې د اســتـــرې ســرګـردانـــه نـــظر

ـ دا داغـزنـــو اوږدو لارو دسـفـــر لاروی ـ

ستا د خوږو سترګو چینو کې لمبولای نه شم.

* * *

نور مې د سترګـــو ردګـــو در پـــه غـــاړه

ستا د پـــښـــو پـــلو نـــه هم نـــه ښکاري

نور مې د شونډو د ښـدیـــا پـــه څـــنـــډو

ـ په دې شګلنو بې بـــهـــاره تـــالـــو ـ

ستا د بوسې ګلونه هـم نـــه ښـــــکاري

* * *

نـــور دې د خـــیـــال په اسمان نه ځلیـــږم

نور مې د خوب کلي ته هـــم نـــه راځـــــې

دا سې ښکار ږې چې هېرکـړی دې یـــــم

د ګلـــورینـو خـاطـرو لـــه بـاغـــــه

د وچ لرګي په شانې لیرې غورزولای دې یم.

زما او ستا هـغـه اوريـنـه ميـنـه

چې ځلېد لـه، بـلـبـد لـه مـدام

هغه د تورو مانبـامـونـو ډيـوه

-لکه د شپو په زړه کـې بلـه شـمـه-

چې سوځېدله ، خنديـدلـه مـدام

اوس پـه کې اور نه شته ، سپرغی نـه لـري

اوس له رڼـا ډکه ځـولـی نـه لـري.

خو لا تر اوسه مې دزړه په قـاب کـې

يوازې ستا دمخ تـصـويـر پـاتـې دی

يوازې ته مې يې دذهن پـه ډولی کې ناسته

يوازې ته مې لکه وينه په رګـو کـې جـاري.

آلمان ـ نومبر ـ ۲۰۰۰

د انځر ونه

که د انځر ونه ګل ونيسي ،

زه به مې سترګې باغ کې وکرمه

او ترسبا پورې به

د وږمې لارا ،وځارم،

او دا ټوټې،

ټوټې،

ټوټې،

زړه به مې،

د شنې وږمې په لاره،

پانې،

پانې،

وشيند مه.

که د انځرو ونه ګل ونيسي،

زه به مې سترې اوساړه لاسونه،

د باغ په وچ لښتي کې وبهوم

ونې به ويښې کړمه.

او د سپېرو لښتو په ذهن کې به،

د سرو غټيو ترانه وکرم.

* * *

که د انځرو ونه ګل ونيسي،

زه به د وربڼو له ړندو ستر ګو نه،

په جل وهلو بوټو ،ځاځکی

ځاځکی،

وخښږم،

او پسرلی به له درندو خوبونو پاځومه

که:انځرو

ونه،

ګل،

ونيسي.

المان- اپريل-۱۹۹۸

ګل او ستوری

۱

ته لکه ګل ،

لکه له شنو وړمو نه هیره غوټې ،

د ساړه ژمي په سړه څیله کې وغوړیدې.

خپله توده اروادې ،

په یخ وهلو څانګو وویشله.

* * *

ته لکه ستوری ،

لکه پاک او ځلیدونکی ستوری

په تورو تپو شپو کې ،

د شنه اسمان په تندي وځلیدې ،

او په زړي شغلو دې ،

د شپې شډلې کوڅې وویناځلې.

* * *

تا د سمسو رو پسرلیو دراتلو په هیله ،

تا د سرو ګلو دباغچو دغوړیدو په هیله ،

تا دبلبلو په یاد ،

تا د سندرو په نوم

په مړاوو بوټو کې د ساه د ټوکیدو په هیله ،

خپل ځان ،

وږمه ،

وږمه ،

کړ.

* * *

تا د رنګین ښایست تلپاتې تصویر،

د شعر په ښکلو ګوتو ،

د سپېرو تیږو په تخته وکاږه

او خړو تورو ته دې،

د رنا رنګ ورکړ.

تا د سپوږمۍ په غوږ کې،

د لمر زرینه ترانه جاري کړه.

او د بې نوره شپې په څنګو کې دې،

د ابدي رنا ،

ګلان،

وټومبل.

ته لکه ګل،

لکه له شنو وړمو نه هېره غوټۍ،

د بې بهاره کال په تور فصل کې،

د تر خه باد په لمن،

پاڼه،

پاڼه،

ورژېدې.

ته لکه ستوری،

لکه پاک او ځلېدو نکی ستوری،

د سارې ژمي تکو تورو شپو کې،

د شنه اسمان له سترګو،

ځاځکی،

ځاځکی،

وځځېدې.

آلمان- می- ۱۹۹۸

بدله کوڅه

اشنا پردی ، کوڅه بدله ښـــکاري

ټوله دنیا راته ، شړله ښـــــکاري

پسر لنی ښکلایې وغـــورېـــده

دګلو باغ یې له وربـله ښـــکاري

بلبله پام کوه بې هـوډه نـه شـــې

لاره اغزنه تر سنبلــه ښـــکاري

اسمانه نور مې هـمت مــه ازمایه

تاته ما نې ماته کو ډله ښـــکاري

څومره اوچت دی افغاني غرورمې

دسوال غونچه راته خځله ښکاري

پتنګه راشه که وزر تـــــودوې

لا یې دحسن ډیوه بله ښـــکاري

دګلو جوش دی که شغلې شهیدې

چې له هراته ، تر کابله ښـــکاري.

المان

۱۹۹۷/۷/۲

شپه ده

دلـمر په کلي باندې ، بره شـپـــه ده

دژمي شـپه ده ، بې سحره شـپـــه ده

سپـــورې مې ویده ده ، ستوري نه ځليږي

لکه مـازديګر تر مازديګره شـــپه ده

بلخ او هـري په تـرورمیو کـــې ډوب

له بـد خـشانه تر خـيبـره شپـــه ده

رستـــم په څاه کې د شـغا لـــويدلی

ډکه لـه درده ، له پـــر هره شـپـــه ده

نـــوروته لمر دی په قسـمت ورغـــلی

زمـــوږ په برخه ، بـــرابـــره شپـــه ده

په تـورو وريځو کې بريښنا شوه چيرې

که يـــې لـــه زلـفـو مـروره شپـه ده

ګـــل دوربـل دې راتـــــه وځـــلوه

جانانه شپه ده ، ســتمګره شـپـــه ده

المان

۱۹۹۸/۳/۲۷

دیا دونو په مانۍ کې

ماته یادشي څومره سخته اوترخــه وه

هغه ورځ چې مورِ له یو بل نه جلا شوو

ته په خپلې لارې ولاړې ، زه په خپــلې

دژوندون په لویه دښته کې تنها شو و.

* * *

ستا له سترګو څخیدل غمي داوښــکو

خو په شونډو دې ترخه موسکا خوره وه

نه خوراته څــه وویل نـــه مـــا څـــه

پوهیدو چې دوصال وروستۍ شیبه وه

* * *

مادې ســترګو لوستلی تو قسمـــت و

مادې زلـفو کې لیدلې تورې شپـې وې

ما لیدل چې تورتمونــه وه په مـــخ کې

مالیدل چې راخورې تــورې تیــارې وې.

* * *

پو هیدم چې د اغزو په څوکــو تګ دی

پوهيدم چې د سکروټو ښـــکلول دي

پوهيدم چې په کوچني بې وسه زړه کې

د غمو دلويـو غرونـــو ځـــايـــول دي.

* * *

اوس چې ګورمه دوخـت د غرو له شانه

لاتر اوسه مـوږ هماغسې تنـــهـا يـــو

نه مو لارې بيرته بيا يو بل تـــه رســـي

نه د مينې ناوکی منزل تـــه بـــيـــا يـــو .

* * *

خوتر اوسه مې هماغسې پـــه زړه کـــې

لا ژوندي دي ستا خوارې خوارې يـادونه

هره ورځ مې سترګې تاپسې غـــړيـــږي

هره شپه راسره مله دي ستا غـــمـــونـــه.

* * *

راته ګرانه يې تراوسه راته ګـــرانـــې

لامې زړه کې ستا دمينې اوربـليـــږي

لامې اوس هم د خوبـونو ښا پيرۍ يـــې

لادې مخ راته يالونو کې ځلـــيـــږي.

* * *

لامې اوس هم دلندو سترګو هنـداري

تشې نه دي ستا د سترګو له تصـويـره

لامې اوس هم د يادونو پـه مانۍ کـې

يوه شمه پـــه لمبو کـــې ده اسيـــره.

المان

اګست ۲۰۰۰

د پوښتنو تصویر

پردیسه چیرته ځې ، دچا په هیله ،

دکوم آرمان په لوري لاره وهې

منزل دې کوم دی ، دمه ځای دې چیرته ؟.

له کومه راغلې او په کومه درومې ،

پدې اوږده ،

کړه وړه لاره ،

تنهاکې پښې.

دژوندون پیټی دې په سترو اوږو ،

دلارې دوړې دې په بڼه پرتې ،

ددواړو سترګو دکتاب پاڼې دې ډکې له پوښتنو ځنې.

پدی اوږده اوډبرینه لاره ،

ډیر کاروانونه تللي ،

ډیرو ستومانه مسافرو مزلونه کړي ،

خوچاته پته نشته ،

چې له هغوی نه څوک ،

منزل ته

رسیدلي ، که نه.

او د تاریخ په ډبرینه اواغزنه لاره ،

له هغو ټولو نه یو اځې یو تصویر پاتې دی ،

یو بې حسابه ، بې ځوابه ، د پوښتنو تصویر ،

درژیدلو ، ننښتیځلو ، آرمانونو ، تصویر ،

اودغمونو ، تصویر ،

پردیسه !

چیرته ځې ، دچا په هیله ؟.

المان

۲۰۰۰/ ۷/ ۱۲

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

توره ږلی

په پلو کې يې شغلــه پــه بــلی راوړه

که آسمان په ګريوانه کې سپورمې راوړه

درنا ناوې پلو په مــخ راخــپــور کـــه

تورې شپې دتــرو ږميــو ډولـــی راوړه

زه دګلو دغونــچــو پــه تــمــه ولاړم

خو اغزيو نــه مې ډکه ځــولــې راوړه

دلمبو غو ټيــو بــاغ پــه ســر اخيستی

سپينو وريځو تــکه تــوره ږلی راوړه

وچوي دونو وينــه پــه رګــوکــې

دروا غجن پسرلي يــخه ســيــلې راوړه

چې دخپلې غاړې هار پرې نه ايسته کړي

ماغريب ورته داوښــکو ډالـــی راوړه

دښو په سر يې بيا ستــوري ځــلــيــږي

داسې ښکاري مانبامــونــو دی راوړه

دآشنا دسنــو بــوی لــه کلــي ووت

لمره ته ورته دزلــفــو ګــيــډی راوړه.

کابل ـ ثور / ۱۳۷۱

دلمر له باغه

زه به دلمر له غوړيدلي باغه

يو څو تازه ګلونه وشکومه

او ستا دزلفو توره شپه به پرې رنګينه کړمه.

زه به دپرخې دالماسو دانې ،

دشنې وړمې په تارکې وپييمه

او ستا په غاړه به يې وځړوم.

که ته يو ځلې او دتل لپاره ،

زما دزړه کور ته راننوزې ،

او بيا دمينې په نوم ،

راته هماغه هيرې شوې ډيوې ولګوې

هغه چې ما اوتا په ګډه سره ،

دلويې مينې په نوم ،

زموږ دهيلو په مانۍ کې امانت ايښې وې

المان

اپريل ۲۰۰۱

هم له تخت، هم له تابوته

نوردې څوک نه پيژني ،

نور دې هيڅ څوک هم ، نوم په خوله نه اخلي.

نور له هرچانه ورک يې ،

نور له هر چانه هير يې

نور نه دپلي ، نه سپاره په ياد يې

او هغه سپين آس دې ،

ـ چې له هر څه او هر چا ګران و درته ـ

نور ستا له ياده پردی شوی ښکاري ،

اوته له هر څه اوله هر چا نه پردی يې ورته .

نور دې له غږه دچا زړه نه ريږدي

نور دې له چيغو دچا ځان نه رپي ،

نور ، هم له مينې ، هم له کرکې تش يې.

نه دې په ګل ،

نه دې په تيږه کې ،

اثر ،

پاتې دی.

نور دژوندیو له سرحده تير يې ،

نور دې څوک نه پيژني ،

نور ،

هم له تخت ،

همله تابوته ،

هيريې.

المان

۱۹۹۸ / ۲ / ۲۸

د باد په کنډوالوکې کاوون توفاني

دعا

بارانه تاته مې لاسونه په دعا نیولي

تاته زاړې کومه ،

لږ خوزمورږ په سوزیدلو کروندو ووره .

* * *

سږ کال خوهم لکه دتیرو په شان ،

داسې ښکاریږي پسرلې نه لرو ،

سږ کال خو هم سنځلو ګل ونه که

بوی درامبیل نه را ځي ،

ورږمې په زلفو کې رانه وړي دنارنجو غوټې .

* * *

سږ کال خو هم باغ ته نرګس رانغی ،

ګلابو کډه وکړه ،

نیالګي له ځانه سره ژاړي ، ونې سا نه باسي

ملیار په باغ کې دتبرونو بزغلي کرلي .

* * *

سږ کال خو هم غاټول ونه ټوکیدل ،

او په ګل خیزو دښتو ،

دګنډيريو زهرجني څانګې وغوړيدې ،

کو چيان رانغلل ، په بيديا کې کيږدې پلنې نه شوې ،

تشو کنډرو کې اور ونه لګيد .

جړاوې نه شوې په ځنډيو داوښانو غاړې ،

رمې په تالو باندې سمې نه شوې ،

شپانه په شپوله کې شپيلې په شونډو پورې نه کړه ،

څړتون خالي پاتې دی ،

هوسې دغرو څوکو ته وختلې ،

ګړي آسمان ته خوله نيولې ديوه څاڅکي اوبو په هيله.

* * *

سږ کال خو هم دتو تکيو دوزرونو سرود ونه غږيد ،

زمږ دکلي دمسجد په نړيدلي چت کې ،

دتوتکيو په ځای ،

تورو غومبسو چتې جوړې کړلې.

څوک به آيت د "ابا بيل" ووايې

څوک به کانړو ،

د سپيرې دښتې ،

پيلان وولي.

* * *

سړ کال خو هم تا لندې ونه خندل ،

دغور غوري بابا برقي قمچينه ،

دتورو وريځو ذاسونو په ملا غبرګه نه شوه .

او داسمان له تورو تپو سترګو ،

د «رحمت» يو څا څکې ونه څڅ يده.

موږ له اوږدو مزلونو وروسته ،

داوبو په تمه ،

سراب ته،

ورسيدو .

* * *

بارانه ووريږه ،

تاته زاری کومه ،

يو ځلي بيا زموږ په کلي پسرلې راوله.

المان

اپريل ۱۹۹۳

د باد په کنډوالوکې

کاوون توفاني

دايمان په لمن

لامې تراوسه ستوري څاڅي دګريوان پــه لمــن

دزړه دودونه مې لګيږي داسمان پــه لــمــــن

دګلو ناوې نا اميده دسپرلــي ډولــــۍ کــې

زخمي بلبل ورته ژړيږي دخزان پـــــه لــمــــن

پردې وطن دی مسافرې شپې په غم تيـــــروم

کاشکې يوه شيبه ويده وای دجانان په لــمــــن

وجود مې اور اخلي سوزيږمه ، لمبه لمبه شــم

چې دسکروټو باران ګورم دافغــان په لــمــــن

ساقي له خم نه مرور ، خم له صهبــا نه خالــي

دميکشانو ډلې ګرځي دبيا بان پـــــه لــمــــن

بيا زور زاهد دی بيا هماغه محتسب وختونه

بيا مې داغونه دي چې څاڅي دايمان په لمــن

هسې مې ډکه شوه دزړه دښته له زيړو ګلــــو

لکه چې ستوري وي ټو مبلي دآسمان په لمن

آلمان

۱۹۹۴/۲/۲۳

دسکروټو په اقليم کې

دسکروټو په اقليم کې ګلان نشته
په خوږلن کې غاټول کله زرغونيږي
ګله ! بل چيرته يې څاره دوږمې لار
سيلۍ ستا په پسته ژبه نه پو هيږي.

يوه هيله

توري خاوري به يې پوري کړم په سترګو
که قسمت يو ځلي بيا وطن ته بو تلم
خپلي اوښکي به يې پرخه کړم د ګلو
که کوم باد هغه ښايست چمن ته بو تلم

نه ګل ته، نه اغزي ته

له تندې مرمه ، خو ساقي ته مې لاس نه رسيږي

د تر خو ميو ، کنډولي ته مې لاس نه رسيږي

ددې بې رنګه او بې بويه پسرلي په شپو کې

ګل خو لا پريږده چې اغزي ته مې لاس نه رسيږي

لکه دژمي دکمره په سر ولاړه ونه

له وږمې هير يم پسرلي ته مې لاس نه رسيږي

لکه داوښکو څاڅکی پريوتم په خپل ګريوانه

تشه سيپۍ يمه غمي ته مې لاس نه رسيږي

په پټه خوله يې دهجران په سرو سکروټو سوزم

ژړامې هيره اسويلي ته مې لاس نه رسيږي

چې پکې وخکمه ديار دخوږې مينې ترخه

دزړه ټوټې ټوټې کودي ته مې لاس نه رسيږي

ماويل وابه خلم کسات تري دشهيدو شبو

خو ګريوانه دزندګي ته مې لاس نه رسيږي.

المان

۲۰۰۰ / ۶ / ۲۵

لمر ته سرود

۳

لمره ! که ته په خوب ویده پاتې شې

او یو ځل بیا زمونږ د کلي په آسمان باندې ونه ځلیږې

څوک به د شپې په تکه توره دره ،

د طلایي شغلو غزل ولیکي ؟.

* * *

لمره که ته خپلې ګلبویه زلفې ،

پدې اغزنه شپه ونه غورځوې

څوک به د زمي په یخجنو دښتو ،

د پسرلي د ګلو سین سم کړي.

څوک به د باد کاږه واږه لاسونه ،

د نسترنو له تنکیو غاړو وښو یوي.

* * *

څوک به په غرونو کې ،

ورېمې ویښې

کړي .

څوک به ددښتو دغاټول په تنکیو شونډیو ،

خوږه موسکا وکړي.

څوک به د پرخې نازولې لونې ،

دخپلو څنو په وریښمینونوراني تالو نو وزنګوي.

څوک به دمستو بلبلانو په ګونګیو ژبو ،

دمحبت سندرې وبهوي.

څوک به دځوانو غزلبو لو توتکیو ګلالي وزرونه ،

دسپین سهار په شدو ولمبوي.

څوک به دباغ په غوږ کې ووایي دګل دغوړیدو سندره ؟

لمره !

که ته ،

په خوب ،

ویده ،

پاتې شې.

المان

۲۳ / ۱۰ / ۲۰۰۰

دمينې ترون

بيامې جـــانـــانـــــه ، دزخمي زړګي په سوې للمه

ستا دخـــوږو ، خـــوږو يـــادونو بـاران ووريـــده

بيا مې دمـــــړاوو خاطـــــرو په رژيدلـــي چـمـــن

دپسرلي دســـــرو ګلـــونـــــو پـــاران ووريـــده .

* * *

کلونه وشـــــول چـــــې له تا نه جلا شـــوې يـــمـه

کلونه وشـــــول چـــــې په تا مې سترګې نه خوږيږي

کلونه وشـــــول چـــــې دنيا لکه زنـــدان ده راتـــه

کلونه وشـــــول چـــــې دسا وزر مې نـــه غوړيږي

* * *

اوس مـــې يـــادېـــږي هغـــه تللې هغه تيرې شيبې

هغه دګلـو غـــونـــدې ښکلـــي اورنګين وختونـه

هغه دمينې درنا پـــه مـيـــو مـســتـــې ورځـــې

هغه ســـاده ، هـغـــه سپـيـــځلي نازنين وختـونـه

* * *

چې مـې لـــه تـــا ســـره ترون پـکـې دمـيـــنې وکـــه

چې ستا پـــه غـــيـــږه کـې مـې ځان او جهان وپيژنده

ته مـــې کعبـــه شـــوې درته زه په لمانځه ودريـــدم

ستا په لمنه کې مـې هـــوډ او ايـــمـــان وپيژانـــده

* * *

ماويل زه به دې جانانه جنـــتي ښـــايـــســـت تـــه

دسروغوټيو غوندې ښکلې ســـور غـــزل ولـيکم

ماويل زه به دې دتور ټکري پـــه تـــورو څـــنـــډو

دلمر په اوښکو حماسه دسره تـــــکل ولـــيـــکم

* * *

ما ويل زه به ستادزلفو په حسينو شـــپـــو کـــې

دابدي مينې ځلانـــده ســـتـــورې وځـــلـــوم

ما ويل زه به ستادمخ هغه سپيڅـــلې ســـهـــار

دپسرلي دشنې وړمـــې په عـــطـــرو ولـــمـــبوم

* * *

ماويـــــل زه په دتيـــارو اوږده ، اوږده لاســونـه

ستا پـــه زرينو ، پرتـــمـــيـــنـــو زلـفـــو وتـــړمـــه

ماويل زه به دبـــــدرنګې شپـــې ناولې کـــجـــيـــر

دسپينې ورځـــې درنـــا پـــه غـــشو وولـــمـــه.

خودتیارو دخدای ، بـــدرنـــــګه اردە بـــلـــه وه

ستا برخــه لیک یې دبادونـــو پـــه وزر وتـــارې

ستا په تندي یې آیـــا تـــونـــه دلـمبـــو ولیـــکل

ستا په تیـــکري یې دسرو وینو سـمنـــــدر وتـــارې

* * *

مامـــرغـــلـــرې ستا له سترګو نه راتولې نـــه کړې

مادې پـــه زلـفـــو دآرمان کلونه ، ونـــه تـــومـبل

دماتمونو توروشپـــو تـــه دې څراغ نـــه شـــومـــه

دزړه داغلي پـــرهـــارونـــه مـــې دې ونـــه ګنـــډل

* * *

چې ستـــا دزړه پـــه ښار لښکرې دماتم وخـــتـــې

مایې یوازې پـــه ســـرو ستـــرګو تما شـا کـــولـــه

ستـا پـــه دردونـــو اوپه خپلې بـې وسۍ مـې ژړل

ته ســـوزیـــــدې مادرته هیلـــه دبـــقـــا کـــولـــه

* * *

خدایـــزده چـــې ستـــا په زوریدلي زړه به څه تیریږي

ښایي چـــې ستـــا تـــه به بې هوډه ، بـې وفا ښکارمه

ته به مې وړ دخـــپـــلې مـینـې دپـــرتم نـه ګـــنـــې

تاتـــه بـــه مـــات ښکارمه تاته به رسوا ښکارمـــه.

* * *

مات خـــو بـــه يـــمـــه ، خوجانانه بې وفا نه يـــمـــه

دتومتونو زنجـــيـــــرونـــه په پـــښـــو ګـــرځـــوم

له تا نـــه لـــيـــرې ، پـــه پردیو نا آشنا کوڅـــو کـــې

دمجـــبـــوری دژونـــدون پـــيـــتی پـــه اوږو ګرځـــوم

* * *

خوســتـــا دستـــرګـــو په زیارت باندې قسم کـومه

یوه شیـبـــه دې هـــم لـــه یاده جلاشوی نـــه یـــم

دشنـــه بـــاور په کرونده مې لا هـــو ډونه شنـــه دي

دسرو غاټـــولـــو پـــه تـــړون باندې ختلې نـه یـــم.

* * *

دیاد پـــه دښـتـــه کـــې مې څري ستادمینې هوسۍ

دخوب بـــاغـــچـــه مـې ستـــا دحســـن په ګلونـــو پټه

دذهـــن دړه مـــې یـــوازې ستـــا نـا مـــه پـــوښـلې

دزړه مانۍ مې ستا په ښکلو تصـــویـــرونـــو پـــتـــه.

المان

جنوري ۲۰۰۱

د تروږميو بهير

ستا د زلفو سلسلې مې دیا دونو سلسلې شوې

د یوې شیبې خندا وه ، د غمونو سلسلې شوې

سپوږمۍ مخ دی رابښکاره که ، د تیارې شپې له کنډوه

چې دلمر زرینې څنې ، د دودونو سلسلې شوې

په نمجنو سترګو څارم ، د آشنا د قدم لاره

خو وعدې دنن سبا یې ، د کلونو سلسلې شوې

دا بهیر د تروږميو ، د رنا په کالـه راِغې ؟

که شیبې د خوشالیو ، د ویرونو سلسلې شوې

په وجاړه میکده کې نه ساقي او نه صهبا شته

د کوثر د امید تنده ، د عمرونو سلسلې شوې

له جنته راوتلی ، د دوزخ په څنډو ګرځم

هم ثواب او هم ګناه مې د اورونو سلسلې شوې

مایې زلفې ښکلولې ، په خندا یې راته وویل

چې کاوونه دادې پښو ته ، د دامونو سلسلې شوې

المان

اګست ۱۹۹۷

د سپلمۍ ګلونه

چې خندايې وريده ، له اننګيو

اس يې اوښکې دغم څاڅي له ککيو

ددیوانو دلښکرو چپاو راغی

کوه قاف نه کډه وکړه ښاپيرو

رنګ وبوی يې داشنا دکلي نه دی

کا غذي ګلونه راوړل پسرليو

بيا يې مورِ ته کوم ناتار په خوب ليدلی ؟

دآسمان ناولو ستر ګو خونړيو

دممانو لښتې ريږدي له وحشته

تبر شين شو په ځنګله کې دځيړيو

رژوي زرغونې پانې دنارنجو

دلمبو څپې راوړي دي سيللیو

دزنځير ترانه کښيناسته په شوندو

دشمشير ترانه پريوته په مريو

نه بلبلو دشنه فصل زيړي راوړ

نه خو بيا غاړې تازه کړې توتکيو

خړې تالې سوزيدلې سپيرې دښتې

ښکلې نه شوې د غاټولو په غالـــــو

نه په شنو جلګو کې بل شول سره اورونه

نه د ګلو لښکر وخوت په غونډ یـــــو

نه په باغ کې د مرسلو شونډې سرې شوې

نه په د ښته کې بیا وخندل ریـــدیـــو

نه را مبیل زلفې خورې کړې په ګـــلابو

نه نرګس واخیسته ناز د چـنبیلیـــــو

نه د مشکو کاروان راغې له خـتنـــــه

نه په غرو کې عطر وشیندل هوســـیو

نه شبنم مخونه ووینځل د پـــانـــو

نه وږمې شونډې تازه کړې د غوټـــیو

نه بیا پیغلو په پلو کې غونچې راوړې

نه یې زانګې امیلونه پـه غـــړیـــو

نه سپوږمۍ شوه د مینو پیـغـامبـــره

نه را وختلې نجونې ، په بلـــــیـــو

نه ساقي سکروټې تویی کړې په جام کې

نه را جګې شوې لمبې له کـــنډولیـــو

نه سوما شته نه متونه د کـــــوثـــرو

نه شراب ، نه خوږې شوندې د شـــهـــيو

نه دمينې په مزار شمه شـــوه بـــلـــه

نه ځلا په " نوبهار "کې د ســـپـــر غيو

نه نغمې کړې ، نه نڅا دبګرام ترکـــې

دماتم کالي اغوســـتـــي کابـــلـيـــو

نه ګرمي درزم پاتـــې نـــه دبـــزم

نه شرنګا دزولنو نه د بـــنـــګړيـــو

سپوږمۍ ونغښته دوريځو په ټيکري کې

ستورو ولمبل دتورې شپې په پـــيـــو

دسهار زخمي سرباز په وينو سور شـــو

مرغلين کڅونه ونيـــول غـــديـــو

دتقوا جامې په تن دشيطـــا نـــانـــو

دتسبو اميل په غـــاړه دلـــولـــيـــو

ديما په تخت جـــګـــړه ده دکـــربـــوړو

دويارونو تاج په سر دچرمښـــکـيـــو

رنګيو ي دنيک وبد دتو پير پولـــــه

پروني مخونه سپين کـړل نـــنـــيـــو

په شملو کې يې پرتم دپـــرون نـشته

دغرور هنګامه تللې له پـــګـــړيـــو

چې نهنګ يې ځان باله د دريـــابـــونه

اوس يې ګوره په ويالـه کې داوبړيـــــو

آرمانونه شول پوره د ميـــر څـــمنـــو

وينې څاڅې د مردانو له کـــوپـــړيـــو

د زنګي غلام د توري د رنـــــا وي تـــه

د با با پګړې را کوزه کړه لـــمسيـــــو

بيا هماغه توري شپې توري ســـنـــدري

بيا هما غه تور يرغل د تروړمـــــيـــو

بيا هما غه محتسب زاړه وخـــتـــونـــــه

بيا هما غه زړه لـــوبـــه د پـــيـــړيـــــو

بيا هما غه د بل تـــــوره د وروړ غـــــاړه

بيا هما غه سور د زخ د د بنـــمـــنـــيـــو

توري وريځې توروي ځلانده ستـــــوري

تورتمونه زنګوي لمر په کـــمـــــڅـــيـــو

د سپلمۍ ګلونـــــه وړ د وربـــل نـــه دي

چا اخيستې ده ميـــوه له ګـــنـــډيـــريـــو

* * *

دغرور غرمو سر ټيټـــي ورتـــه مه شې

دوطن دډګرونو ، نـــنـــــګيـــالـــيـــو

پيلامه دبل سفر ده سترې مـــه شـــــې

داغـــــزنـــــو اوږدو لارو لارويـــــو .

المان

اپريل ۱۹۹۷

ستوري

بيګاه سترګو د اسمان ژړلـــــي ستوري

چې د توري شپې په دار خټـــلي ستوري

شپه لانده سبا شـوې چې شـــپه راغلـــه

تر وړمې لا تللې نـده، تـللي ستـــوري

سپين سهار يې تور ما ښام ته قـرباني که

شپې په غشو د تيارو ويشتلي ســـتوري

د افق لـــمنـــه ســـره شـــوله په وينو

چا پـــه تـــوره د ستـــم وژلي ستوري

څه پروا ده که سيلې ګلو نـــه يـــووړل

ما پـــه زلـفـو د جانان ټو مبلي ستوري

چا خـــالـــونـــه بـــا يلولـــي چا سرونه

مورِ د مـيـــنې په سره لار با يللي ستوري

د رڼا لـــه ګـــريـــوانـــه و تلي ستوري

نن کـــوټـــې د اسمان تشه توره ښکاري

پکې نه ځلـيـــږي سپين سپېځلي ستوري

المان ۲۸/۹/۱۹۹۶

يوارمان

کلونه و شول چې په زړه کې يو ارمان لرمه

چې ستا ښايست او زما لويه مينه

په يوه شعر کې سره و نغاړمه.

* * *

ورځ رانه ټوله د ګلوييو په لټون تيره شي

خو چې ما ښام شي او د شپې کجير راوالوزي د ښار په لوري

او په رنګينو کو څو و غوړوي تور وزرونه

د ښار واټو نه له ستو ما نه لارويو تش شي

او بنديز و لګېږي

نري ، نري کاږه واږه وسنني

د شنه اسمان په لوري و غځېږي،

زمونږه خړه او خټينه بيړۍ

د بې پايانه سمندر په مرجاني کڅو نو و ننبلوي.

زه بيا را پا څيږم ډيوه بله کړم

او د ګلو ييو ځولې پرانيزمه،

قلم راواخلم، کاغذونه تور کړم

او تر سهاره پورې،

ستا د ښايست او خپلې مينې قصيده وليکم

* * *

چې د سهر د ګزمې غږ واورم

زه مې ليکلي کاغذونه بيرته بيا له سره ولو لمه،

نه پکې ستا سمسور ښايست وويني،

او نه زما هغه ښيرازه مينه

قصيده خيرط کړمه

او ټولو تورو کاغذونو ته مې اور وا چوم

او په تو دوخه يې تاوده کړم خپل ساړه لاسونه

* * *

بيا چې د شپې کجير له خوبه ويښ سي،

وزرونه و ټکوي

او بيرته والوزي د خپلې زړې ځالې په لور،

د شنه سهر شهباز تکل د الو تلو کړي

او له ختيځو غرونو والوزي د شنه اسمان د ډبتې په لور،

او طلا يې وزرونه،

زمونږ د ښار له پا سه و غوړوي

کو څې راوينې شي، تازه کړي پرونې يادونه

او خبل مخونه د رڼا په پيو بيا وينځي،

بیا په واټونو د رنګونو باران ووریږي

او د پېړیو تکراري لوبه له سره پیل شي.

زه بیا ځولۍ غاړې ته وا چومه،

بیا په ګلو ییو پسې ملا وترم

او ټوله ورځ وایم له ځانه سره

ګوندې که نن شپه مې ارمان پوره شي،

ستا د ښایست او خپلې مینې انځور و کاږمه.

خو لا تر اوسه پدې نه پوهیږم

چې ستا ښایست، او زما لویه مینه،

د یو شعر،

جغرافیه کې ،

څاییدای

کله،

شي

المان

۲۰۰۰ اکتوبر